
RAWADARI

# په افغانستان کې د اسماعيلي شيعه گانو حقوق بشري وضعيت

دسمبر ۲۰۲۵



# د مطالبو لیکلړ


| | |
|---|---|
| سریزه | ۳ |
| د څېړنې تګلاره | ٤ |
| د څېړنې محدودیتونه | ٥ |
| حقوقي چوکاټ | ٦ |
| الف- د مذهبي لږکیو د حقونو تضمین | ٦ |
| ب- د مذهبي لږکیو په اړه د دولتونو ژمنتیاوې | ٦ |
| ۱. په ملي قوانینو کې د مذهبي اقلیتونو د حقونو ملاتړ او تضمین | ۷ |
| ۲. اجرائي او اداري اقدامات | ۷ |
| په افغانستان کې د اسماعیلیانو قومي- ټولنیز جوړښت | ۸ |
| د راپور د موندنو ارزونه او تحلیل | ۸ |
| د برخلیک ټاکلو حق | ۹ |
| الف) له سیاسي ګډون او د کار له حق څخه محرومیت | ۱۰ |
| ۱. د واک او تصمیم نیونې له ځایونو څخه سیستماتیک حذف | ۱۱ |
| ۲. د مذهبي هویت له امله شړل او د کار له حق څخه محرومول | ۱۳ |
| ۳. د دندې د ساتنې لپاره د هویت پټول یا د مذهب بدلول | ۱۵ |
| ب) د اتحادیو او ټولنو د جوړولو حق | ۱٦ |
| د مذهبي هویت درلودلو او څرګندولو د آزادۍ حق | ۱۷ |
| د مذهبي هویت د څرګندولو وېره | ۱۸ |
| کلامي تبعیض، کرکه خپرونه او د اسماعیلي شیعه ؤ تکفیرول | ۲۰ |
| ۱. کرکه خپرول او د تکفیر ښکاره ترویج | ۲۰ |
| ۲. کلامي تبعیض او سپکوونکې ټاپې | ۲۳ |
| ۳. د اسماعیلیانو د ډوډۍ خوړلو څخه ډډه | ۲۵ |
| ۴. د اسماعیلیانو له خوا د څارویو د ذبحه کولو حرام ګڼل | ۲٦ |
| ۵. له اسماعیلي کورنیو سره د واده او خپلوۍ ممنوعیت | ۲۷ |
| له اسماعیلي نارینه وو سره د اهل سنت ښځو د واده په زوره فسخه کول | ۲۹ |
| د مذهبي مناسکو د ترسره کولو آزادي | ۳۱ |

د نورو په عبادي مراسمو کې ګډون ته اړیستل ۳٤
پر ښوونیزو بنسټونو او د عبادت پر ځایونو محدودیت لګول ۳٦
د اسماعیلیانو د عبادتځایونو غیر اسلامي ګڼل ۳۷
د مذهب بدلولو او د حنفي فقهې زده کړې ته اړیستل ۳۸
الف) اسماعیلي ماشومانو ته په جبر د حنفي فقهې ښوونه ۳۹
۱. ګواښ، شکنجه او نغدي جریمه ٤۰
۲. د حنفي فقهې زده کړې ته هڅونه ٤۲
ب) د مذهب بدلولو ته د اسماعیلیانو اړیستل ٤۳
د مذهب د اجباری بدلون او د طالبانو په دیني مدارسو کي د اسماعیلي ماشومانو د زده کړو پایلې ٤٥
تهدید، وېره او امنیتي اندېښنې ٤۷
مشکوکې او له محاکمې پرته وژنې ٤۸
اسماعیلي ښځو سره د جنسیت او مذهب له مخې تبعیض ٥۱
د اسماعیلیانو اجباري بې ځایه کېدل او د ملکیت غصب ٥٥
۱. اجباري بې ځایه کېدل ٥٦
۲. د اسماعلیانو د ملکیتونو غصب ٥۷
عدالت ته د لاسرسي محدودیتونه ٥۹
پایله ٦۲
وړاندیزونه ٦۳

## سریزه

دا څېړنه د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې واک ته د طالبانو له بېرته راګرځېدو وروسته په افغانستان کې د اسماعیلي شیعه مذهبي اقلیت د بشري حقونو د وضعیت څېړنه او ارزونه کوي. دا څېړنه د افغانستان د ننه او بهر د اسماعیلي ټولنې د غړو له منځه قربانیانو او د هغوی د کورنیو له غړو سره د مخامخ مرکو پر بنسټ تر سره شوې ده. اصلي موخه یې د بشر حقونو د نقض د تجربو او ښکاره بېلګو مستندول، د عامه پوهاوي لوړل، او د دې ټولنې د غړو له خوا تجربه شویو ننګونو او ستونزو ته د رسېدنې لپاره د عدالت غوښتنې د هڅو ملاتړ دی.

ترلاسه شوي شواهد او اطلاعات ښیي چې طالبانو واک ته د بیا راستنېدو راهیسې، د دې مذهبي لږکي پر ژوند سازمان شوي او توپیریز محدودیتونه لګولي، او په دې موده کې د یادو اقلیتونو پر وړاندې د بشر حقونو د سرغړونو او مذهبي ځورونې مرتکب شوي دي. لکه څنګه چې په تېرو څلورو کلونو کې د افغانستان اسماعیلیان نه یوازې په بشپړ ډول له سیاسي، اداري او ټولنیزو برخو څخه څنډې ته کړای شوي دي، بلکې په هدفي بڼه د دوی د مذهبي او کلتوري هویت د کمزوري کولو او ځپلو لپاره هم اقدام شوی دی دغه وضعیت په مستقیم ډول د دې ډلې پر امنیت، انساني کرامت او اساسي حقونو اغېز ښندلی دی.

**که څه هم په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې ځورول او ورسره تبعیض تاریخي او کلتوري ریښې لري؛ خو د دې څېړنې موندنې ښیي چې واک ته د طالبانو له بېرته راستنېدو څخه، دغه تبعیض او ځورونې سیستماتیکه بڼه غوره کړې او د دې مذهبي لږکي د ژوند ټولو برخو ته غځېدلی دی.**

ترلاسه شوي اطلاعات همداراز څرګندوي چې طالبانو په تېرو څلورو کلونو کې، په ځانګړي ډول په بدخشان ولایت کې پر اسماعیلي ماشومانو د حنفي فقهې زده کول تحمیل کړي دي او هم یې د ښکاره تکفیرولو له لارې، د سازمان شویو فشارونو، وېرولو، په قتل ګواښلو، نیولو، شکنجې او نورو تاوتریخجنو طریقو د دې ټولنې غړي د اسماعیلیه مذهب پرېښودو او د سني مذهب منلو ته اړیستلي دي. د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، په بدخشان ولایت کې هغه کسان چې د طالبانو دیني مدرسو ته د خپلو ماشومانو لېږلو سره یې مخالفت کړی و، له نقدي جریمې، شکنجې او د وژلو او د کور او مال د سوځولو له ګواښ سره مخامخ شوي دي.

هممهاله، په دې راپور کې راټول شوي روایتونه ښیي چې د اسماعیلیه ټولنې د غړو تر منځ د مذهبي هویت د ښکاره څرګندولو وېره د منفي تبلیغاتو، تکفیر، کلامي تبعیض او کرکې خپرولو له امله د پام وړ زیاته شوې ده. د مذهبي مناسکو پر ترسره کولو د سختو محدودیتونو لګول، د نورو په مذهبي او عبادي مراسمو کې ګډون ته اړکېدل، له دولتي ادارو څخه شړل او د مذهبي هویت له امله له کاري فرصتونو څخه محرومول، له اسماعیلي کورنیو سره د واده او خپلوۍ منعه کول، د ښوونیزو مرکزونو او عبادتځایونو پر فعالیت محدودیت لګول، ګواښل، له محاکمې پرته وژنې، اجباري بې ځایه کېدل او د اسماعیلیه ټولنې د اړوندو ملکیتونو او شتمنیو اجباري غصب، د بشر حقونو د نقض نور هغه جدي موارد دي چې مرکه شویو ورته اشاره کړې ده.

سره له دې، د دې څېړنې موندنو ښودلې ده چې پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو راوروسته، اسماعیلیه ټولنه د بشر حقونو د جدي سرغړونو او د سیستماتیکې مذهبي ځورونې ښکار شوې ده؛ هغه وضعیت چې کېدلای شي د بشریت ضد جنایت مصداق وګڼل شي.
تمه کېږي چې د دې څېړنې پایلې او وړاندیزونه د اړوندو بین المللي مراجعو د پاملرنې وړ وګرځي او د دې ټولنې د موجودیت د تضمین، د دوی د فرهنګي هویت د ساتل کېدو او د بنسټیزو آزادیو او حقونو د تامین لپاره یې د بیړنیو اقداماتو د طرحه کولو او پلي کولو بنسټ وګرځي.

## د څېړنې تګلاره

**په دغه څېړنه کې د ۵ ښځو په ګډون له ۲۵ تنو قربانیانو او د هغوی د کورنیو غړو، په افغانستان کې د اسماعلیه ټولنې د بشر حقونو مدافعینو او فعالانو سره، په تلفوني او مخامخ توګه مرکې ترسره شوې دي. مرکه شوي کسان پراخه جغرافیایي، ټولنیزه او سني تنوع منعکسوي، چې یوه برخه یې د رواداري د څېړنې د ټیم او سیمه ییزو همکارانو له خوا په ګوته شوي او یو شمېر نور د مخکنیو مرکه شیو له لارې په ګوته شوي دي.**
مرکې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له دریمي نېټې څخه د نوامبر میاشتې تر ۲۰ نېټې په زماني واټن کې، د رواداري د څېړونکو له خوا، د یو ډول او نیمه جوړښت لرونکې پوښتنپاڼې په کارولو ترسره شوې دي.

په بدخشان ولایت کې د اسماعیلیانو د بشري حقونو د وضعیت د ترینګلتیا اړوند مخکنیو شواهدو او راپورونو ته په کتو، د دې څېړنې د مرکه شویو لویه برخه په هدفي ډول او د بشر حقونو د سرغړونو د مواردو د مستندولو په پار، له همدې ولایت څخه ټاکل شوي دي؛ خو د راپور محتوا پراخه ده او په نورو ولایتونو کې د دې مذهبي لږکي د بشري حقونو وضعیت هم څیړي. پر همدې بنسټ، نورې مرکې له کابل، پروان، بامیان، بلخ او بغلان ولایتونو څخه دي چې د اسماعیلیه ټولنې د غړو تر منځ د متنوعو تجربو د منعکسېدو امکان برابروي. د دې څېړنې زماني دوره د ۲۰۲۱ کال له اګست میاشتې څخه د ۲۰۲۵ کال تر ډسامبر پورې ده چې د اسماعیلي شیعه ګانو د بشري حقونو وضعیت اړوند پر بنسټیزو بدلونونو تمرکز کوي.

**مرکې په دري ژبه تر سره شوي دي او هرې مرکې له یونیم تر دوه ساعتونو وخت اخستی دی. ټولې مرکې د ګډونوالو په اګاهانه رضایت ترسره شوې دي چې ډېری ګډونوال یې له افغانستانه بهر ژوند کوي. د رواداري څېړونکو د هرې مرکې له پیل کېدو مخکې، د څېړنې د موخو، امنیتي تدابیرو او د اطلاعاتو د ساتنې او کارونې د ډول په اړه له جزئیاتو سره ټولو مرکه شویو ته معلومات ورکړي دي.**

له مرکه شویو څخه ترلاسه شوي اطلاعات، د کیفي شننې له تګلارې څخه په استفادې تحلیل شوي دي، او مرکې د پوښتنپاڼې منځپانګې او د څېړنې کلیدي موضوعاتو ته په پاملرنې سره، کوډ شوې او ؤډل شوې دي. د همدې له مخې، هغه شمېرې چې د دې راپور په ډېرو برخو کې مطرح کېږي، د لویو سرغړونو د پېژندلو او د بشر حقونو د سرغړونو د بېلګو مستندولو په موخه دي، نه د دې مذهبي اقلیت پر ټولو غړو د تعمیم ورکولو لپاره.

## د ښځېنې محدودیتونه

رواداري د دې ښځېنې په بهیر کې د اسماعیلیه ټولنې ۵۳ تنو ته، لکه قربانیانو او د هغوی خپلوانو، د مدني ټولنې فعالانو او د بشر حقونو مدافعینو ته مراجعه کړې ده، په دوی کې ۲۸ تنو په مرکو کې د ګډون لپاره لېوالتیا ونښوده. له ډېرو هڅو سره سره، هغو کسانو سره مرکه برابره نشوه چې تر جبر او فشار لاندې یې خپل مذهب بدل کړی دی. ځکه چې د ترلاسه شویو اطلاعاتو له مخې، دا کسان په پرله پسې توګه د طالبانو تر څار لاندې دي او له همدې امله هغوی ویرېږي او له هر ډول نظر څرګندولو ډډه کوي. سربېره پر دې، په کلیو او لرې پرتو سیمو کې انټرنیټي خدمتونو ته په لاسرسي کې محدودیتونه بله هغه ننګونه وه چې لا نورو قربانیانو ته په لاسرسي کې خنډ ګرځېدلې.

**له بل پلوه، یو شمېر کسان چې رواداري ورسره خبرې کړې، ویلي دي چې په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې د اوسنې وضعیت په اړه اطلاعات ورکول د هغوی د مذهبي مراجعو پر غاړه دي. د دې کس په وینا، یادو مراجعو هم خپلو پیروانو ته توصیه کړې چې د ټولنې د ټولو غړو په خطر کې لوېدو د مخنیوی لپاره، له اعتراض، ستونزو مطرح کولو او د روان وضعیت په اړه له خبرو کولو ډډه وکړي.**

په یادو مواردو سربېره چې مطرح شول، طالبانو اطلاعاتو ته پر لاسرسي او په ځانګړې ډول د بشر حقونو د سرغړونو اړوند د شواهدو په خپرولو پراخ او سخت محدودیتونه لګولي دي. همدا راز، رسمي اسنادو ته د لاسرسي نشتوالی او د ترلاسه شویو معلوماتو د خپلواکې ښځېنې او کره والي د ازمویلو د امکان محدودیت، د دې ښځېنې بله ننګونه وه؛ ځکه دا مهال طالبانو د بشر حقونو د څارنې او مستندولو هر ډول فعالیت بند کړی، او تر خپل کنټرول لاندې بنسټونو ته د لاسرسي یا خپلواکې څارنې اجازه نه ورکوي. سره له دې او د یادو محدودیتونو سره سره، دا راپور په افغانستان کې د اسماعیلیه مذهبي اقلیت د بشري حقونو د وضعیت مستند تصویر وړاندې کوي چې پر لومړي لاس شواهدو ولاړ دی.

د یادونې وړ ده چې په ځینو مواردو کې، د ولایتونو نومونه، نېټه او د هغو پېښو نور اړوند جزئیات چې د مرکه شویو د پېژندل کېدو امکان رامنځته کوي، په قصدي ډول له راپور څخه حذف شوي دي.

# حقوقي چوکاټ

هر ډول نژادي، جنسيتي، مذهبي تعلقاتو، سياسي عقيدې او هر بل وضعيت ته له پاملرنې پرته له بشر حقونو څخه په برخمنېدو کې د برابرۍ د اصل له تحقق څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره او د اقليتونو متضرربېدونکو شرايطو ته په پام سره، ډېر شمېر بين‌المللي اسنادو د مذهبي اقليتونو حقونه او آزادۍ پېژندلې او تضمين کړې دي.

## الف د مذهبي اقليتونو د حقونو تضمين

**د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، له قانوني ملاتړونو څخه په برخمنېدو کې د برابرۍ اصل او په دې ميثاق کې پېژندل شوي ټول حقونه د ټولو وګړو لپاره په رسميت پېژندلي او د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سياسي عقايدو او نورو عقيدو له مخې هر ډول تبعيض يې منعه کړی دی.** [1] همدا راز، دې ميثاق د فکر آزادي او د خپل انتخاب له مخې د يو مذهب يا معتقداتو درلودلو آزادي، د مذهب د ښکارندولو آزادي، د مذهبي آدابو او تعليماتو ترسره کول تضمين کړي دي، هغه که په فردي ډول وي که په ټوليز ډول، په ښکاره توګه وي که په خصوصي او فردي توګه. [2] د بشر حقونو د کمېټې د تفسير پر بنسټ، د فکر او مذهب د آزادۍ حق او د يو مذهب يا عقيدې په درلودلو يا منلو کې د وګړو آزادي يو مطلق حق دی چې په هيڅ ډول شرايطو کې بايد محدود نشي. [3]

د بشر حقونو نړيوالې اعلاميې هم په دې اعلاميه کې راغليو حقونو څخه په برخمنېدو کې له وګړو سره تبعيض نه کول، او د فکر، وجدان او مذهب آزادي د ټولو وګړو لپاره اعلان کړې ده. 4 همدا راز، د ملي يا قومي، مذهبي يا ژبنيو اقليتونو په اړه اعلاميې هم، د موجوديت حق، د مذهبي هويت د دودونې او پياوړتيا لپاره د شرايطو رامنځته کول، د مذهبي مراسمو او مناسکو د ترسره کولو آزادي، د مذهبي بنسټونو او موسسو رامنځته کولو او په عامه ژوند کې د مذهبي اقليتونو ګډون په رسميت پېژندلی دی. [5]

**هممهاله، د افغانستان د ۲۰۰۴ کال تصويب شوي قانون د مذهبي مناسکو د ترسره کولو د آزادۍ په رسميت پېژندلو سره، په صراحت سره ويلي چې «د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعيض او امتياز منعه دی. د افغانستان اتباع ښځينه دي که نارينه د قانون پر وړاندې مساوي حقونه او وجايب لري.» سربېره پر دې، د اساسي قانون په ۱۳۱ ماده کې، د اهل تشيع د شخصيه احوالو اړوند دعوو ته رسيدګي، د همدې مذهب د فقهې پر بنسټ تضمين شوې ده.** [6]

## ب- د مذهبي اقليتونو اړوند د دولتونو ژمنې

هغه څه ته په پاملرنې سره چې په مخکني بحث کې مطرح شول، د مذهبي اقليتونو حقونه د بشر حقونو په ډېرو بين المللي اسنادو کې او په ځانګړي ډول په الزامي اسنادو کې تضمين شوي دي، نو غړي دولتونه مکلفيت لري چې د مذهبي اقليتونو د حقونو د پياوړتيا، ملاتړ او درناوي لپاره لاندې اقدامات او تمهيدات ترسره کړي.

1 .د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، ( ۱۹٦٦ د ډسامبر ۱٦مه)، ۲مه او ۲٦مه ماده.
2 . هماغه سرچينه، ۱۸مه ماده.
3 . د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو کمېټه، د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق د ۱۸مې مادې په اړه عمومي ۲۲ شمېره تفسير، (۱۹۹۳) ۸ بند.
4 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، (۱۹۴۸ ۱۰ ډسامبر) لومړی او ۱۸ مه ماده.
5 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، «د ملي يا قومي، مذهبي يا ژبنيو اقليتونو د حقونو اړوند اعلاميه»، (۱۹۹۲ ډسامبر).
6 . د جمهوري اسلامي افغانستان اساسي قانون، (۲۰۰۴ د جنوري ۲۷مه)، ۸۱۸ شمېره رسمي جريده، ۲مه ماده، ۲۲مه ماده او ۱۳۱مه ماده.

### ۱. په ملي قوانينو کې د مذهبي اقليتونو د حقونو ملاتړ او تضمين

د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق له مخې غړي دولتونه دنده لري چې د مذهبي اقليتونو د حقونو په ګډون په دې ميثاق کې د راغلو حقونو د تضمين او رسميت پېژندنې لپاره تقنيني اقدامات تر سره کړي. په دې حقونو کې د مذهب درلودل او د عبادت، تعليم او مناسکو ترسره کولو له لارې د خپل مذهب فردي يا جمعي څرګندونه شامل دي. 7 همدا راز، دولتونه بايد د خپلو داخلي قوانينو له مخې د مذهبي ټرلتيا پر بنسټ هر ډول تبعيض منعه کړي. [8]

په ملي، يا قومي، مذهبي يا ژبنيو اقليتونو پورې د اړوندو کسانو په هکله اعلاميې هم له هيوادونو غوښتي چې بايد د مذهبي هويت د پياوړتيا او په خپل قلمرو کې د مذهبي اقليتونو د شتون د ملاتړ په موخه مناسب تقنيني اقدامات او نور لازم تدابير ونيسي او پلي کړي. [9]

### ۲. اجرائي او اداري اقدامات

د غړو دولتونو يوه بله ژمنه د داسې اقداماتو ترسره کول دي، چې د نورو د مداخلې پر وړاندې، له خپلو حقونو او آزاديو څخه د ټولو وګړو برخمنېدل تضمين کړي. [10] د دې ډول ژمنې پر بنسټ، د نورو ډلو، افرادو يا ادارو د هر ډول دښمنانه اعمالو پر وړاندې، چې د دوی د مذهب درلودلو يا څرګنولو آزادي مختل کوي، دولتونه بايد د بېلابېلو دينونو او عقائدو د پيروانو د ساتنې لپاره اغېزناک اقدامات ترسره کړي، همدارنګه، دولتونه بايد د مذهب د بدلولو، يا د مور و پلار د عقيدې پرخلاف پر ماشومانو د دين تحميلولو مخنيوی وکړي. [11] د بشر حقونو کمېټې هم په صراحت سره ويلي چې د مذهبي ډلو پر وړاندې د بريدونو مخنيوی، د کرکې خپرولو قانوني تعقيب او مذهبي ځايونو ته په امن کې د لاسرسي تضمين د دولتونو په دا ډول ژمنو کې راځي[12].

په ملي يا قومي، مذهبي يا ژبنيو اقليتونو پورې د اړوندو کسانو په هکله اعلاميې هم له دولتونو غوښتي چې په خپل قلمرو کې د شته اقليتونو د تاريخ، دودونو، ژبې او فرهنګ په اړه د عمومي پوهې د هڅونې له لارې اقدامات ترسره کړي، او همدا راز ملي سياستونه او پروګرامونه د اقليتونو د ګټو په نظر کې نيولو سره او د خپل هيواد په پرمختګ او اقتصادي پراختيا کې د هغوی د بشپړ ګډون په ډاډمنولو سره طرحه او پلي کړي. [13]

د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق په ګډون افغانستان له ډېر شمېر بين المللي الزام لرونکو اسنادو سره يوځای شوی چې د مذهبي اقليتونو حقونه تضمينوي او په دې اسنادو کې د راغليو مفادو پر پلي کولو مکلف دی[14]. د همدې له مخې، طالبان د حاکمې ډلې په توګه دنده لري چې دې اسنادو سره د افغانستان له يوځای کېدو څخه پيدا شويو تعهداتو ته ژمن پاتې شي او د لازمو تقنيني، اداري او اجرائي اقداماتو په ترسره کولو په هيواد کې د مذهبي اقليتونو ملاتړ وکړي او خپلو انساني حقونو او آزاديو ته د لاسرسي لپاره ورته زمينه برابره کړي.

7 . د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق ۲مه ماده او ۲۷مه ماده.
8 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲ شمېره عمومي تفسير، ۹ بند.
9 . د اقليتونو د حقونو اعلاميه، ۱ ماده.
10 . د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو کمېټه، «د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق د غړو دولتونو عامه حقوقي ژمنتيا» ۳۱ شمېره عمومي تفسير، (۲۰۰۴)، ٦، ۷، او ۹ بندونه.
11 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲مه شمېره عمومي تفسير، ۲ او ۴ بندونه.
12 . هماغه سرچينه، ۲ او ۷ بندونه.
13 . د اقليتونو اعلاميه، ۴ او ۵ ماده.
14 . د ملګرو ملتونو سازمان د اطلاعاتو مرکز، «د بشر حقونو معاهدې چې افغانستان ورسره يوځای شوی دی.»

# په افغانستان کې د اسماعیلیانو قومي- ټولنیز جوړښت

که څه هم چې په افغانستان کې د اسماعیلیانو د شمېر په اړه دقیق او رسمي اطلاعات نشته؛ خو د یو شمېر څېړنو پایلې او غیررسمي تخمینونه ښیي چې د افغانستان د شیعه ګانو ۲-۳ فیصده یې اسماعیلیان دي. **د اسماعیلیه مذهب پیروان ډېری په بامیان، بدخشان، کابل، بغلان،15 تخار،16 ارزګان، غور، د پروان ولایت شېخ علي سیمه او د میدان وردګ ولایت 17 بهسود ولسوالۍ، د سمنګان ولایت تاشقرغان، کندوز او د بلخ ولایت[18] په مزار شریف کې ژوند کوي. د بدخشان ولایت اسماعیلي شیعه ګان ډېری په شغنان، واخان، زیباک، یمګان، جرم، روشان، کران و منجان او درواز کې ژوند کوي.** [19]

د دې مذهب پیروان له بدخشان ولایت پرته تقریباً ۹۰ فیصده هزاره دي چې ډېری د افغانستان په مرکزي سیمو کې ژوند کوي او د بدخشان اسماعیلیان په قومي لحاظ تاجیک دي. [20] د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې په وروستیو لسیزو کې د نفوسو د رسمي او معتبري سرشمېرنې د نشتون له امله د ارقامو په اړه د نظر اختلاف موجود دي.

## د راپور د موندنو شننه او ارزونه

په دې برخه کې په افغانستان کې د اسماعیلي شیعه ؤ د بشري حقونو وضعیت، له مرکه شویو کسانو څخه د راټولو شویو روایتونو په استناد او د بشر حقونو د بین المللي اسنادو په چوکاټ کې تحلیل او ارزول کیږي.

لومړی د برخلیک د ټاکلو حق او ورپسې د مذهبي هویت درلودلو او د مذهب د څرګندولو د آزادۍ حق څېړل کیږي. په راتلونکو کرښو کې، مذهبي ښوونو ته لاسرسی، د مناسکو د ترسره کولو آزادي، د ښوونیزو مراکزو او عبادتځایونو وضعیت، عدالت ته لاسرسی او همدا راز اجباري تري تم کېدل او د اسماعیلیه ټولنې د اړوندو ملکیتونو غصب په تفصیل سره څېړل کیږي او شنل کیږي.

15 . فاروق مرګن، « اسماعیلیان په افغانستان کې د یوې اقلیت ډلې په توګه: د اسماعیلیانو د تاریخ او معاصر دیني ژوند مطالعه»، https://dergipark.org.tr/tr/download/article-file/4506049

16 . حفیظ الله عمادی، افغانستان: د تخار تاجیک اسماعیلیان – د یوې انزوا پای، Contemporary Review، ج. ۲۹۱، ش. ۱۶۹۴ (۲۰۰۹)، ص ۲۸۸.

17 . یحیا بیضا، «د افغانستان د هزاره ګانو شیعه رجحان: د تاریخي شننې یوه ارزونه«، د شیعه اسلامي مطالعاتو خپرونه، ج. ۷، ش. ۲ (۲۰۱۴)، ص ۱۵۱-۱۷۱.

18 . رابرت ال، کانفیلد، «په یوه څو اړخیزه ټولنه کې دیني کشمکش او رجحان: په هندوکش کې مذهبي سمون، د انتروپولوژۍ د مقالو ټولګه«، ۵۰ ګڼه، د انتروپولوژۍ موزیم، میشګان پوهنتون، ۱۹۹۳. https://pahar.in/pahar/Books%20and%20Articles/Afghanistan/1973%20Faction%20and%20Conversion%20in%20a%20Plural%20Society--Religious%20Alignments%20in%20the%20Hindu%20Kush%20by%20Canfield%20s.pdf

19 . شیروز، جابرشایویچ خونشائف، «د پامیر د اسماعیلي ټولنې ځانګړتیاوې»، د علم او نوښت کنفرانس د مقالو ټولګه ۲۰۲۱: لوري نیونې او د پراختیا لومړیتوبونه. ملبورن آسترالیا، (۲۰۲۱). https://auspublishers.com.au/en/nauka/conference_article/5362/view

20 . د اسماعیلي مِیراث ټولنه، «د افغانستان اسماعیلیان»، http://heritage.ismaili.net/node/29909

# د برخلیک ټاکلو حق



د بشر حقونو بین المللي اسنادو واضح کړې ده چې ټول هیوادوال له هر ډول تبعیض او نه توجیه کیدونکو محدودیتونو پرته، حق لري چې د هیواد د عمومي چارو په اداره کې خپله په مستقیم یا په غیر مستقیم ډول ګډون وکړي او عمومي دندو ته د لاسرسي لپاره له برابرو فرصتونو څخه برخمن اوسي.[21] د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، غړي دولتونه پر دې مکلف ګرځولي چې په فرهنګي ژوند کې د ګډون، د علمي پرمختیاوو څخه د ګټې اخستنې او کارونې او د علمي، ادبي او هنري آثارو څخه د زیږیدلو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ اړوند د ټولو وګړو حقونه په رسمیت پیژني.[22]

سره له دې، د دې څېړنې موندنې ښیي چې طالبانو اسماعیلي شیعه‌ګان د هغوی د مذهبي هویت له امله له خپلو بنسټیز حقونو لکه د سیاسي او ټولنیز ګډون حق، کاري فرصتونو ته د برابر لاسرسي حق، ټولنیزو فعالیتونو او د ټولنیزو بنسټونو له رامنځته کولو څخه محروم کړي دي.

## الف) له سیاسي ګډون او د کار له حق څخه محرومیت

د اقلیتونو د اړوندو کسانو د حقونو په هکله اعلامیې پر دې تاکید کړی چې د مذهبي اقلیتونو پیروان حق لري په اغېزناک ډول په فرهنګي، دیني، ټولنیز، اقتصادي او عمومي ژوند کې ګډون وکړي.[23] د مدني او سیاسي حقونو د بین امللي میثاق پر بنسټ، په حکومت او د هغوی پر برخلیک او راتلونکي اغېز لرونکو تصمیم نیونو کې د خلکو د یوې ډلې قصدي محرومیت د بشرحقونو سرغړونه ګڼل کیږي.[24]

هممهاله، د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې، د کار او دندې حق ته برابر لاسرسی د وګړو له خورا مهمو حقونو څخه دی، چې د مذهبي تعلقاتو په ګډون دې حق څخه په برخمنېدو کې هر ډول تبعیض ته قائیلدل د قانون له مخې منعه دي، او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي.[25] سره له دې، د دې څېړنې موندنې ښیي چې اسماعیلي شیعه په تېرو څلورو کولونو کې د خپل مذهبي هویت له امله په پراخ ډول له سیاسي ګډون او د دولتي بنسټونو په تصمیم نیونو کې له حضور، کاري فرصتونو ته له لاسرسي او د ټولیزو فعالیتونو له امکان څخه محروم شوي دي.

د افغانستان لپاره د بشر حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور ورکوونکي په یو راپور کې ویلي چې د طالبانو اداره له قومي او مذهبي تنوع څخه بې برخې ده او د قومي او مذهبي اقلیتونو استازي په اداره او د تصمیم نیونې په پروسو کې حضور نه لري.[26]

21 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲۵مه ماده..

22 . د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، (۱۹٦٦ د ډسمبر ۱٦مه) ۱ بند، ۱۵مه ماده.

23 .د اقلیتونو اعلامیه، ۲ بند، ۲مه ماده.

24 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲۵مه ماده.

25 . د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو میثاق، ٦مه او ۷مه ماده.

26 . د ملګرو ملتونو عالي کمشنري، ځانګړی ګزارشګر، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ۲۰۲۲ اګست، ۱۸ ص. https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc516-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

### ۱. له واک او د تصمیم نیونې له ځایونو څخه سیستماتیک حذف

د دې څېړنې ټولو ۲۵ تنو مرکو ویلي چې اسماعیلیان د خپل مذهبي او قومي هویت له امله په تبعیضي ډول د تصمیم نیونې له پروسې او په امنیتي، عدلي او قضایي بنسټونو کې له حضور څخه د هیواد په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کې حذف شوي دي.

مرکه شویو ویلي چې په هغو سیمو کې چې اسماعیلیان د پام وړ نفوس لري په محلي ادارو لکه ولسوالیو، ریاستونو او د تصمیم نیونو په نورو ځایونو کې هیڅ نقش نه لري او یواځې محدود شمېر یې په ښوونیزو او روغتیایي برخو کې، هغه هم ډېرى په هغو سیمو کې چې خپله هلته ژوند کوي، د ښوونکو او د روغتیایي مرکزونو د کارکوونکو په توګه کار کوي. په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي:

> «له ریاست الوزرا نیولې تر معینیتونو او لویو ریاستونو پورې، ۳۴ والیان، ۳٦۴ ولسوالان او خپلواک ریاستونه چې د دولتي بنسټونو په تشکیل کې دي، هیڅ اسماعیلي ځوان او د دې ټولنې یو تن هم پکې نشته. دا په ښکاره څرګندوي چې اسماعیلیان له ملي ګډون او په دولتي ادارو کې له حضور څخه قصدا محروم کړای شوي دي.» [27]

> بل مرکه شوي ویلي:
> مونږ د دولت د تصمیم نیونې په کچه، په ولایتونو، فرهنګي او اکاډمیکو بنسټونو کې ډېر کسان درلودل، لکه ۴-۵ تنه د پارلمان غړي اسماعیلیه مذهبه ؤ. د بدخشان، بامیان، بغلان او کابل په ولایتي شوراګانو کې مو استازي درلودل، د کابل د والي مرستیال دهمدې ټولنې له غړو څخه و، د سمنګان او بغلان د پوهنتونونو ریاستونه هم زمونږ د خلکو ؤ. په بشري حقونو او عدلي او قضایي بنسټونو کې مو حضور درلود، خو له بده مرغه اوس ټول دغه کسان په کور کېښېنول شوي دي.»[28]

یو شمېر نورو مرکه شویو تاکید کړی چې حتا په هغو ولسوالیو کې چې ډېرى اوسېدونکي یې اسماعیلیان دي د دې مذهبي اقلیت پیروان په سیمه ییزو ادارو کې هیڅ نقش او ځای نه لري. په دې اړه یو مرکه شوی وایي:

> «دا مهال په همدې بدخشان کې په ټولو ریاستونو، مدیریتونو او د سیمه ییزو ادارو د تصمیم نیونې په کچه حتا یو اسماعیلیه مذهبه هم حضور نه لري. د دولتي ادارو د کارکوونکو د استخدام او ګوښه کولو لپاره د طالبانو معیار حنفیت او دیوبندي کېدل دي او دا امتیاز هغو کسانو ته رسیږي چې له دوی سره یوځای په سنګر کې جنګیدلي دي. د دې معیارونو پر بنسټ، تل کافر او مشرک ګڼل شوي اسماعیلیان څه چې حتا د اهل سنتو ټولو وګړو ته هم د ګډون فرصت نه ورکول کیږي. طالبان حتا اسماعیلیانو ته وایي چې باید کلیمه ولولي او مسلمانان شي کنه زمونږ تر واک لاندې جغرافیه کې د ژوند حق نه لري.»[29]

27 . رواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۹مه.
28 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.
29 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکوتر ۲۱مه.

بل مرکه شوي ویلي چې دا مهال طالبان د اسماعیلیه ټولنې د استازو له حضور او ګډون پرته د هغوی د ژوند او راتلونکي تصمیمونه نیسي:
«... دا مهال پر افغانستان داسې نظام حاکم دی چې د اقلیتونو د ژوند او راتلونکي اړوند ټول تصمیمونه پخپله نیسي. حتا په خورا وړو سیمه ییزو مسایلو کې لکه د اقلیتونو د عقیدو او مناسکو په اړوندو موضوعاتو کې مداخله او مزاحمت کوي. پر همدې بنسټ، که د اسماعیلیانو حقونه نقض شي، نه د تصمیم نیونې حق لري او نه اعتراض کولی شي.»[30]

یو بل مرکه شوي ویلي:
په تېرو ۲۰ کلونو کې د افغانستان اسماعیلیانو د ورانۍ او او طالبانو سره د یوځای کېدو پر ځای، د علم زده کړې او پوهې لپاره هڅه وکړه. اوس طالبان وایي، دا چې تاسو جهاد نه دی کړی، په دولتي ادارو کې د حضور حق هم نه لرئ، یا باید کلمه ووایئ، مسلمانان شئ او توبه وباسئ، او یا مونږ ته وښیاست چې مسلمانان شوي یاست. وروسته مونږ تصمیم نیسو چې تاسو په دولتي ادارو کې څه نقش ولرئ.»[31]

د طالبانو تر کنټرول لاندې دولتي ادارو څخه په حذفولو کې یو شمېر مرکه شویو کسانو د قومي هویت نقش ته هم اشاره کړې ده:
«زمونږ خلک د بغلان ولایت کې نه یواځې د اسماعیلي مذهب له امله بلکې د دې له امله هم له سیاسي او ټولنیز ګډون څخه محروم شوي دي، چې هزاره دي. په اوسني وضعیت کې او د طالبانو په حکومت کې یواځې هغه کسان په تصمیم نیونه کې ګډون لري چې طالب وي یا په تېرو ۲۰ کلونو کې یې له دې ډلې سره اړیکه درلودلې وي. اسماعیلیان په سیمه ییزه حکومتولۍ او لویو تصمیم نیونو کې هیڅ نقش نه لري.»[32]

په دې اړه بل مرکه شوي ویلي دي:
«دا مهال هیڅ اسماعیلیه مذهبه تن د دولتي ادارو د رهبرۍ په کچه نشته او حتا د عدلي، قضایي او امنیتي بنسټونو په ټیټو بستونو کې هم حضور نه لري او په ځانګړي ډول مونږ اسماعیلیه هزاره ګان د خپل قومي او مذهبي هویت له امله له هرې بلې ډلې زیات له تبعیض سره مخامخ یوو.. په داسې حال کې چې هر انسان حق لري د خپلو مذهبي باورونو او معتقداتو پر بنسټ ژوند وکړي، خو اوسنی وضعیت داسې دی چې اسماعیلیان اړ دي د حنفي مذهب له عرف سره سم ژوند وکړي او طالبان له اسلام څخه د خپل سخت روایت پر بنسټ د اسماعیلیانو د ژوند او راتلونکي په اړه تصمیم نیسي. [33]

د دولتي ادارو د تصمیم نیونې له ځایونو څخه د اسماعیلیانو قصدي حذف د ټولو مرکه شویو په روایتونو کې د ګډې نمونې په توګه تکرار او ښکاره شوی دی، چې د طالبانو له خوا د هدفي سیاست ښکارندوی او د مذهب پر بنسټ د تبعیض مصداق ګڼل کیږي.

30 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
31 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
32 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۷مه.
33 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.

## ۲. د مذهبي هويت له امله شړل او د کار له حق څخه محرومول

د دې څېړنې ٦ تنو ګډونوالو ويلي چې په مستقيم ډول د خپل مذهبي هويت له امله د کار له حق څخه محروم شوي دي، او همدا رنګه ١٦ تنو نورو ويلي چې داسې کسان پېژني چې له اسماعيليه ټولنې سره د تړاو له امله له دولتي ادارو څخه ګوښه شوي دي. يو مرکه شوی چې لوړې زده کړې او له مخکني حکومت سره د کار کلونه تجربه لري، خو د خپل مذهبي هويت له امله له دولتي دندې ګوښه شوی، داسې وايي:

«کله چې طالبان واک ته بيا راغلل، د نورو قومي او مذهبي ډلو ټول پخواني همکاران مې بېرته دندو ته ستانه شول، زه هم لاړم چې خپل کار ته دوام ورکړم. په داسې حال کې چې ټولو همکارانو مې حاضري لاسليک کړه او خپلو کاري شعبو ته ننوتل، خو ما ته يې د حاضرۍ د لاسليک اجازه رانکړه. کله مې چې لامل وپوښت، و يې ويل چې دا امر د ادارې د رئيس له خوا شوی دی. وروسته مو د سيمې د مشرانو له لارې د ادارې له رئيس سره خبرې وکړې او موپوښتل چې ستونزه څه ده؟ هغه وويل، په اسلامي امارت کې لومړی اصل دا دی چې ټول کارمندان بايد مسلمانان وي. هغه حتا د سيمې مشرانو ته يې ويلي ؤ چې اسماعيليان مسلمانان نه دي، او که تاسو يې مسلمانان ګڼئ ستاسو دين هم کامل نه دی، د همدې ادارې د بشري سرچينو عمومي رئيس هم زما د شکايت په ځواب کې وويل چې په اسلامي حکومت کې د قوانينو پلي کوونکی بايد مسلمان وي. په کابل کې مې د امربالمعروف ادارې د شکايتونو اورېدلو څانګې ته مراجعه وکړه، د دې برخې مسئول راته وويل همدا چې اسلامي امارت درته ستونزه نه جوړوي، همدا بس ده. وروسته د شکايتونو د اورېدو ولايتي پلاوي هم همدا خبره تکرار کړه او زياته يې کړه چې د شيعه ؤ په ځانګړې ډول د اسماعيليانو لپاره چې د آغا خان پيروان دي او د دوی د ادعا له مخې لمونځ نه کوي، روژه نه نيسي او مسجد نه لري، په عدلي قضايي او امنيتي بنستونو کې هيڅ ځای نه لري[34]

بل مرکه شوي تن د خپل يو خپلوان د شړلو په اړه ورته کيسه وکړه:

« په باميان ولايت کې زما يو خپلوان په يو دولتي پوست د همدې ولايت په يوه ولسوالۍ کې کار کاوه. طالبانو لومړی ورسره ډېر ناوړه چلند کاوه؛ ځکه تصور يې دا و چې هغه فقط يو هزاره او شيعه دی. خو په هماغه ولسوالۍ کې چې ټول اوسيدونکي يې هزاره دي هغوی يې پرېښودل او ويل يې چې د دوی حضور د خلکو د کارونو د ترسره کولو لپاره اړين دی. خو همدا چې وپوهېدل چې هغه د هزاره او شيعه سربېره اسماعيليه هم دی، په هماغه ورځ يې په ډېر سپکاوي له خپل موقف څخه ګوښه کړ او ورته و يې ويل چې مونږ دومره وخت نه پوهېدو چې ته يو کافر لعين يې، همدا شبه دې وسايل ټول کړه او له دې ځايه لاړ شه. وروسته يې يوه پاڼه ورباندې لاسليک کړه او هغه يې له دندې منفک کړ.» [35]

بل مرکه شوي ويلي:

«نشم کولای نوم يې واخلم او نشم کولای ووايم چې ما سره څه خپلوي لري، خو ما ته بيخي نږدې دی. هغه په يوه سيمه ييزه اداره کې بنه دنده درلوده او له ١۵ کلونو زياته موده يې هلته خدمت کړی و. د طالبانو په راتلو سره يې خپل کار ته دوام ورکړ خو تل له توهين او سپکاوي سره مخامخېده، په

34 . رواداري، ١ شمېره مرکه شوی، ٢٠٢۵ د اکتوبر ١٩مه.

35 . رواداري، ١٠ شمېره مرکه شوی، ٢٠٢۵ د اکتوبر ۴مه.

ځانګړي توګه په وروستيو مياشتو کې د هغې اداري مسئول د اسماعيليه مذهب له امله ځوراوه. سره له دې چې لمونځ يې کاوه او پنځه وخته يې په جماعت کې ګډون کاوه، ديني معلومات، د زده کړو کچه، کاري تجربه او فعاليتونه يې فوق العاده ؤ... بالاخره دوه مياشتې مخکې يې هغه له هغې بست څخه چې پينځه لس کاله يې پکې کار کړی و، منفک کړ. ورته ويل يې ته اسماعيليه يې او نشې کولای زمونږ په منځ کې اوسې.» [36]

يو بل مرکه شوي ويلي چې طالبانو يې يو دوست د عبادي مناسکو د بل ډول ترسره کولو له امله تکفير کړی او له کاره يې شړلی دی:

«يو دوست مې چې ماسټري يې درلوده په يوه لوړه حکومتي اداره کې يې کار کاو او واک ته د طالبانو له راستنېدو وروسته يې هم خپل کار ته دوام ورکړ. يوه ورځ طالبانو هغه راوغوښت، ځکه متوجه شوي ؤ چې د لمانځه پر مهال مسجد ته نه ځي. حتا په جلسه کې يې ويلي ؤ چې دا کس لمونځ نه کوي او کافر دی او داسې خلک په اداره کې ځای نه لري. هغه ورته ويلي ؤ چې کافر نه يم او په خپله طريقه لمونځ کوم او د مذهبي توپير له امله مسجد ته نه ځم. خو طالبانو پر هغه فشار راوړ او بالاخره يې مجبور کړ چې استعفا ورکړي.» [37]

بل مرکه شوي څرګنده کړې:

«زه داسې کس پېژنم چې په يوه روغتيايي برخه کې يې کار کاوه. هغه راته وويل، کله چې د طالبانو پام شو چې اسماعيلي يم، چلندونه يې بدل شول او په بېلابېلو پلمو يې ځورولم. پوښتلم يې چې ولې پينځه وخته لمونځ نه کوم او ويل يې: «موږ دې انشالله انسانوو». همدې فشارونو هغه اړيست چې دنده پريږدي.» [38]

د مذهبي هويت له امله د اسماعيليه ټولنې د اړوندو کارکوونکو ګوښه کول، حتی په خصوصي برخو کې هم راپور شوي دي. په دې برخه کې يو مرکه شوي داسې وويل:

«په کابل ښار کې د يو خصوصي بنسټ ۲۱ تنه کارکوونکي چې د اسماعيليه مذهب پيروان ؤ په يوه اونۍ کې ټول د مذهبي هويت له امله، د خپلو دندو پرېښودو ته اړ شول. جالبه دا ده چې د دې خصوصي بنسټ ملاتړي بنسټونه معتبر نړيوال بنسټونه دي.» [39]

36 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړی.
37 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.
38 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲۰مه.
39 . رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲۶مه.

### ۳. د کار د ساتلو لپاره د هویت پټول یا د مذهب بدلول

له تولو مرکه شویو څخه ۹ تنو یې ویلي چې یو محدود شمېر اسماعیلیان د خپل شغلي موقعیت د ساتنې لپاره، هغه هم د دولتي ادارو په ټیټو بستونو کې، د خپل مذهبي هویت پټولو ته اړ شوي دي، او یا یې خپل مذهب بدل کړی دی. په دې هکله یو مرکه شوي داسې ویلي دي:

> «دا مهال حتا یو سرتېری هم له مونږ څخه نشته او په هیڅ یو دولتي ارګان کې حضور نه لرو. که کوم کس وي هم د خپل هویت په پټولو سره به کار کوي او د خپل مذهبي هویت د څرګندولو جرات نه لري. د بدخشان ولایت په یوه ولسوالۍ کې یو تن دی چې اعلان یې کړی نور اسماعیلیه نه دی. یو شمېر یې ښوونکي دي چې له مخکني حکومت څخه پاتې شوي او په اسماعیلیه مېشتو سیمو کې کار کوي.»[40]

> یو بل مرکه شوي ویلي:
> «زما یو ګاونډی په یوه دولتي اداره کې کار کوي. طالبانو هغه ته وویل چې که زموږ په طریقه لمونځ کوې او جماعت ته حاضرېږې کیدای شي چې د دې ادارې او حکومت کارمند اوسې، کنه نو باید استعفا ورکړې. هغه د خپلې کورنۍ د نفقې د تامین په خاطر اړ شو چې د طالبانو په غوښتنه عمل کړي.» [41]

> همدا راز، یو شمېر نورو مرکه شویو ویلي چې یو شمېر اسماعیلیان د مذهب له بدلولو وروسته د طالبانو تر کنټرول لاندې دولتي ادارو کې استخدام شوي دي.
> درې یا څلور تنه اسماعیلیان چې د جمهوریت په دوره کې یې جرمونه کړي ؤ او طالبانو سره یوځای شوي ؤ، اوس د مذهب له بدلون سره په دولتي ادارو کې کار کوي. له دوی څخه یو تن یې حتا خپل نوم هم بدل کړی او د خپلې کورنۍ او قوم له غړو سره یې ډېر ناوړه چلند کاوه.» [42]

> یو بل مرکه شوي په دې اړه ویلي:
> «جمعه خان فاتح43 یو شمېر اسماعیلیان چې خپل مذهب یې بدل کړی، د خپلو وسله والو ساتونکو په توګه ګمارلي او په واقعیت کې یې هغوی ته امتیاز ورکړی دی.» [44]

د مدني او سیاسي حقونو په بین المللي میثاق کې د راغلیو مقرراتو پر بنسټ، چې د مذهب پر بنسټ یې هر ډول تبعیض منعه اعلان کړی دی، د کار له حق څخه د اسماعیلیانو سازمان شوي محروмول او له دولتي ادارو څخه د مذهبي هویت له امله د هغوی شړل د تبعیض مصداق او د بشر حقونو سخت نقض ګڼل کیږي. [45]

40 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اکتوبر ۲۹مه.

41 .رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.

42 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.

43 . جمعه خان فاتح، په بدخشان ولایت کې د طالبانو یو سیمه ییز قومندان دی چې ټولو ۲۵ تنو مرکه شویو د اسماعیلیانو په ځورولو او ځپلو کې د هغه د نقش په اړه خبرې کړي دي. هغه د دروازونو د پنځو ولسوالیو عمومي مسئول دی.

44 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

45 . د مدني او سیاسي حقونو مدني میثاق، ۲مه او ۲۶مه ماده.

## ب) د اتحادیو او ټولنو د رامنځته کولو حق

د اتحادیو او ټولنو رامنځته کول د مذهبي اقلیتونو د هویت د ساتنې او د تبعیض او د بشر حقونو د سرغړونو پر وړاندې د دوی د ملاتړ وسیله ده. دا حق لکه څنګه چې د مدني او سیاسي حقونو په بین المللي میثاق راغلی دي، له خپلو ګټو څخه د یوې ټولنیزې ډلې د ملاتړ لپاره د دوی د پیاوړې کېدو تضمین دی او د هېڅ محدودیت تابع نه دی، مګر دا چې د قانون له مخې ټاکل شوې وي او په یوه ډیموکراټیکه ټولنه کې ورته اړتیا وي. [46]

سره له دې، ۱۹ تنو مرکه شویو کسانو ویلي چې واک ته د طالبانو د بېرته راستنېدو راهیسې، له اسماعیلیه ټولنې څخه د هر ډول اتحادیې، ټولنې او نورو ټولنیزو بنسټونو د جوړولو امکان سلب شوی دی. همدا راز، یو شمېر مرکه شویو د خپلو فعالیتونو د درولو لپاره د ټولنیزو او مذهبي بنسټونو د غړو د ګواښل کېدو په اړه خبرې کړې دي.

> په اسماعیلیه ټولنه کې د فعالو بنسټونو د کار د منعه کولو په اړه یو مرکه شوي تن ویلي دي:
> «تحصیلي او ښوونیزې برخې، قومي شبکې او نور بنسټونه چې په پراخ ډول یې فعالیت کاوه او د زنځیر د کړیو په څېر یې په ټولو برخو کې ریښې ځغلولې وې، ټول د طالبانو له خوا ودرول شول. طالبانو د دې ټولو بنسټونو فعالیتونه منعه اعلان کړل او دلیل یې هم دا و چې ګوندې اسماعیلیه ټولنه ډېره آزاده ده او افراط کوي... ټول بنسټونه یو په بل پسې وتړل شول.» [47]

> بل مرکه شوي څرګنده کړې ده چې:
> په تېرو څلورو کلونو کې نه یواځې دا چې د بنسټ، شورا یا ټولنې د رامنځته کولو امکان موجود نه و، بلکې طالبانو هغه بنسونه چې مخکې موجود ؤ هم لغوه کړل او یا یې غړي اړیستل چې نور خپل فعالیت ته ادامه ور نکړي. مخکې په هره سیمه او په هر کلي کې یوه شورا او د اسماعیلیانو یو بنسټ موجود و او غړو یې په فعاله توګه کار کاوه. خو واک ته د طالبانو له بېرته راستنېدو څخه وروسته، دا بنسټونه وتړل شول او غړي یې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول تهدید شول... پلار مې چې  زمونږ د سیمې مشر دی تر بېلابېلو فشارونو لاندې و، تر دې چې شورا او په سیمه کې بنسټ یې پرېښودل او اړ شو چې نور خپلو ټولنیزو او مدني فعالیتونه دوام ور نکړي.» [48]

که څه هم طالبانو د دا ډول بنسټونو او اتحادیو جوړول د نورو قومي او مذهبي ډلو لپاره هم منعه کړي دي، خو د دې محدودیت پلي کول د اسماعیلي شیعه ګانو اړوند د یوې متضرربدونکې او په خطر کې واقع ډلې په توګه، د دې سبب شوي چې د خپلو انساني حقونو او آزادیو د دفاع لپاره د هغوی جمعي توان سلب شي؛ دا هغه اقدام دی چې له بین المللي اسنادو سره سم، د بشر حقونو ښکاره سرغړونه ګڼل کیږي. [49]

46 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، لومړی بند، ۲۲مه ماده.
47 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړۍ.
48 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.
49 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲۲مه ماده.

# د مذهبي هويت او د هغه د څرگندولو حق



د مذهبي هویت حق د دین او عقیدې د آزادۍ مهمه برخه ده چې هم په فردي او هم په ټولیز اړخ کې د بشر حقونو د بین المللي اسنادو تر ملاتړ لاندې ده. د دې اسنادو له مخې، هر شخص حق لري خپله عقیده او مذهب په آزاده توګه په فردي یا جمعي ډول، په عمومي یا خصوصي فضا کې څرګند کړي. 50 د بشر حقونو کمېټې تاکید کړی دی چې د عباداتو، دودونو، آدابو او رسومو او تعلیم له لارې د مذهب یا عقیدې د ابراز او څرګندولو آزادي د مذهبي اعمالو او چلندونو متنوعه پراخه لمن لري.[51]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښیي چې ټولو مرکه شویو تاکید کړی دی چې واک ته د طالبانو د بېرته راستنېو سره، د اسماعیلیانو لپاره د مذهبي آزادۍ فضا او په ټولنه کې د مذهبي پروګرامونو او مناسکو ښکاره جوړول، د پام وړ محدود شوي دي. ځورول، سپکول، د منفي تبلیغاتو پراخوالی، کلامي تبعیض او له ګواښ او ویرولو سره تکفیري نسبتونه له هغو مهمو لاملونو څخه دي، چې د مرکه شویو په باور محدودیتونه یې سخت کړي دي.

## د مذهبي هویت له څرګندولو وېره

د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د دې څېړنې ټولو ګډونوالو ویلي چې اسماعیلي شیعه ګان له تبعیض، سپکاوي، ځورونې، امنیتي اندېښنو، کورنۍ ته د ضرر رسېدو له وېرې او د کار د لاسه ورکولو له وېرې نشي کولای خپل هویت او مذهبي باور ښکاره کړي. په دې کې ۲۳ تنو یې ویلي چې شخصاً یې د خپل مذهبي هویت د پټولو تجربه درلوده. د ټولنې د غړو تر منځ د مذهبي هویت پټول نوې موضوع نه ده بلکې په دې هیواد کې اوږده مخینه لري؛ خو د مرکه شویو د څرګندونو پر بنسټ واک ته د طالبانو له بیا راستنېدو وروسته او په تېرو څلورو کلونو کې دا وضعیت لا خراب شوی دی.

يو مرکه شوي په دې اړه داسې ویلي دي:
«په داسې ټولنه کې چې ویل کېږي د اسماعیلیانو ډوډۍ حرامه ده، اسماعیلیان بد بوی کوي او اسماعیلیان کافر دي، هغوی څنګه کولای شي آزاد او له وېرې پرته خپل مذهبي هویت ښکاره کړي؟ البته په هغو ولسوالیو کې چې ډېری اوسېدونکي یې اسماعیلیان دي دا ستونزه نشته، خو کله چې هغوی نورو سیمو ته سفر کوي، د تبعیض او سپکاوي له وېرې خپل مذهبي هویت پټوي چې څوک ورته و نه وایي چې اسماعیلیان بد، کافر او بې دینه دي او یا ډوډۍ یې حلاله نه ده. ما خپله هم څو ځله خپل مذهبي هویت پټ کړی دی.» [52]

50 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۱۸مه، ۲٦مه او ۲۷مه ماده.
51 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲ شمېره عمومي تفسیر، ۴ بند.
52 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

”

بل مرکه شوي ویلي دي:
«اسماعیلیانو د تاریخ په اوږدو کې رنګارنګ ظلمونه او ستمونه تجربه کړي دي او هغه تاریخي وېره لا هم شته؛ په ځانګړي ډول دا چې طالبان واک ته بېرته راستانه شوي، دا وېره نوره هم زیاته شوې ده. په همدې دلیل ډېری اسماعیلیان د هغو محصلینو په ګډون چې په پوهنتونونو کې درس لولي نشي کولای خپل هویت ښکاره او خپل مذهبي مراسم ترسره کړي. زه خپله ډېرې تجربې لرم چې په پوهنتون کې کله به چې د اسلامي ثقافت استادان متوجه کېدل چې زه اسماعیلیه یم، زمونږ پر مذهبي پیشوا به یې ملنډې وهلې. [53]

”

همدا راز، یو بل مرکه شوي د اسماعیلیانو د هویت پټولو د دلایلو په اړه داسې ویلي دي:
«په یو انلاین صنف کې یو ځوان د یو څه وخت لپاره زده کوونکی ؤ. یوه ورځ مې د اسماعیلیانو د مذهبي مناسبت له امله د فیسبوک په سټوري کې پیغام لیکلی و، رانه و یې پوښتل چې اسماعیلیه یم؟ ځواب مې ورکړ هو، ډېر حیران شو او و یې ویل تاسو دا چې له هیواده بهر ژوند کوئ دا آزادي لرئ. هغه وویل چې هغه هم اسماعیلیه دی خو وېرېده چې خپل مذهبي هویت ښکاره کړي. خبرې مو سره وکړې، ستونې یې ډک و، و یې ویل ځومره ښه ده چې په مذهبي مناسبتونو کې آزاد پیغام خپروئ؛ خو مونږ دا کار نه شو کولای، د کورنۍ له امله، د کار له امله او د هر څه په اړه وېره لرو. هر څوک چې مې د مذهب په اړه وپوښتي ورته وایم سني یم.» [54]

”

بل مرکه شوي د خپل مذهبي هویت د څرګندولو اړوند د خپلې وېرې په اړه ویلي دي:
«که کومه ورځ به یې د مذهب په اړه پوښتلم، پټوله مې، ځکه وېرېدم. ما ته وېروونکې وه چې هم خبریاله اوسم، هم ښځه او هم هزاره او تر څنګ یې بل مورد هم ور زیات کړم چې اسماعیلیه یم. نه مې غوښتل دا کار وکړم.» [55]

”

سربېره پر دې، یو بل مرکه شوي ویلي چې د فشارونو او پوښتنو ګروېږنو د وېرې له امله مې نشول کولای خپل هویت او خپل مذهبي باورونه څرګند کړم:
«اوس وضعیت داسې دی چې اسماعیلیان لمونځ د اهل سنت په طریقه او په تړلو لاسونو او په خپل وخت کوي. د فشارونو له امله، د خپلو مذهبي مناسکو او د عبادت د طریقې اړوند هم پټول کوي… کله داسې هم شوي چې د طالبانو امربالمعروف یا د معارف ادارو ته ورغلی یم او د لمونځ وخت ته برابر شوی یم او د طالبانو په منځ کې یواځې زه شیعه وم، اړ شوم چې لمونځ په تړلو لاسونو او د اهل سنت په طریقه وکړم او خپل هویت پټ کړم، ځکه چې هسې نه تر پوښتنو لاندې راشم.» [56]

”

بل مرکه شوي ویلي:
د سیمې ځوانانو په ټلفوني اړیکه کې چې ما سره یې درلوده ویلي چې د سیمه ییزو طالبانو له خوا وربانديې ملنډې وهل کیږي، زمونږ امام ته کنځلې کوي او مونږ مسلمانان نه ګڼي. همدا مسایل د دې

53 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
54 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړی.
55 . رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
56 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.

> سبب شوي چې اسماعیلیان نورو سیمو ته د سفر پر مهال خپل مذهبي هویت پټ کړي... په نورو کلیو او سیمو کې نشو کولای خپل عبادت ترسره کړو. البته دا مسایل په تېر کې هم ؤ او اوس هم شته. په تېر کې کله چې به له یوې سیمې بلې ته تلو د افراطیت له امله چې په مجموع کې شیعه بد ګڼي، نه مي شول ویلای چې مونږ اسماعیلیه یوو، هماغه وضعیت بیا رامنځته شوی او دا چې طالبان په رسنیو کې وایي چې مذهبي آزادي شته، دا رښتیا نه دي.» [57]

د یو شمېر مرکه شویو په باور، اسماعیلي کورنۍ په ځینو سیمو کې خپل بچیان سیمه ییزو مدرسو ته لیږي چې د نورو مذاهبو د فقهې اړوند اړین مسائل زده کړي. دا کار ډېری په ټولنه کې د سپکوونکو چلندونو د وېرې له امله یا د احتمالي زیانونو او خطرونو د مخنیوي لپاره کیږي.

> «داسې مدرسې او مکتبونه شته چې هماغه له ماشومتوبه د اهل تسنن او ۱۲ امامي تشیع د مذهبي مسایلو په اړه موږ ته زده کړه راکوي. تاکید پر دې دی چې دواړه زده کړو چې په ځانګړو مواقعو او شرایطو کې وکولای شو خپل ځان وساتو. د بېلګې په توګه، هم تراویح او هم د اهل تشیع اړوند مباحث. که د ۱۲ امامي اهل تشیع ټولنې تر منځ راشو وایو اهل تشیع یوو او که د اهل تسنن تر منځ راشو وایوو اهل تسنن یوو...» [58]

## کلامي تبعیض، کرکه خپرونه او د اسماعیلي شیعه ګانو تکفیر

د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق دولتونه موظف کړي چې په قانوني او اجرائي اقداماتو سره د مذهبي آزادۍ ملاتړ وکړي او د مذهب پر بنسټ هر ډول تبعیض، دښمنۍ یا تاوتریخوالي ته د هڅونې مخنیوی وکړي. [59] د بشر حقونو کمېټې هم ویلي چې د مذهبي ډلو پر وړاندې د بریدونو مخنیوی او د کرکې خپرولو قانوني تعقیب د دولتونو له بنسټیز دندو څخه دي. [60]

سره له دې، د دې څېړنې د معلوماتو ارزونه ښیي چې په تېرو څلورو کلونو کې د کلامي تبعیض بېلابېلې بڼې د اسماعیلي شیعه ګانو پر وړاندې د پام وړ زیاتې شوې دي، لکه کرکه خپرول او ښکاره تکفیر. ترلاسه شوي شواهد د دې ښکارندویي کوي چې طالبان او دیني افراطي ډلې د دې وضعیت په سختوالي کې نقش لري.

### ۱. کرکه خپرول او د تکفیر ښکاره ترویج

ټولو ۲۵ تنو مرکه شویو تاکید کړی چې د اسماعیلیه ټولنې ښکاره تکفیر او په اړه یې کرکه خپرول پر افغانستان د طالبانو په بیا واکمنېدو سره، د پام وړ زیات شوي دي.

57 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.
58 . رواداري، ۱۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.
59 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، لومړی بند ۲مه ماده، ۱۸ ماده او د ۲۰مې مادې ۲ بند.
60 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲ شمېره عمومي تفسیر، ۲ او ۷ بندونه.

د راټولو شویو اطلاعاتو پر بنسټ، دا تبلیغات ډېری د امربالمعروف د مامورینو او د طالبانو د سیمه ییزو قومندانانو، افراطي روحانیونو و د مسجدونو امامانو له خوا چې د دوی له ډلې سره تړلي دي، په درسي صنفونو، پروګرامونو او بېلابېلو مناسبتونو کې په ښکاره او علني ډول ترسره کیږي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور ورکووکي هم په یو راپور کې ویلي چې داسې شواهد یې موندلي چې ښیي د طالبانو د معارف وزارت اسماعیلیه ټولنه مرتد اعلان کړې ده. [61]

سره له دې، د دې څېړنې یو مرکه شوي چې د دا ډول تبلیغاتو شاهد و، ویلي دي چې:
«زه خپله شاهد وم چې د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې د کارته اتفاق مسجد امام، د جمعې په لمانځه کې د وینا پر مهال اسماعیلیانو باندې ناروا تاپې لګولې؛ داسې شیان یې ویل چې ما د خپل عمر په ۳۰-۳۵ کلونو کې نه ؤ اورېدلي. هغه یو ځل نه بلکې ډېر ځلې ویلي چې هر څوک خپله لور یو اسماعیلیه مذهبه کس ته ورکړي، داسې ده چې خپل اووه نسلونه یې د جهنم اور ته لیږلي دي... بل ځل یې د جمعې لمانځه په خطبه کې ادعا وکړه چې اسماعیلیان د لمونځ او قبلې خلک نه دي او څوک چې د قبلې او لمونځ خلک نه وي، مسلمان نه ګڼل کیږي. که څه هم دا موضوع د آغاخان قنسول د طالبانو د حج او اوقافو اداري له مسئولینو سره شریکه کړه او اسماعیلیه ټولنې ته د دا ډول تبلیغاتو د خطرناکو پایلو په اړه یې خبرداری ورکړ، خو یاد ملاامام لا هم د اسماعیلیانو پر وړاندې منفي تبلیغاتو ته دوام ورکړی دی.» [62]

بل مرکه شوي د خپل یو خپلوان د تجربې په اړه داسې معلومات ورکړي دي:
«د ماما لور مې په کابل کې د اهل سنت په یوه مذهبي مدرسه کې درس لوست. یو ځل یې کیسه وکړه چې یوه ورځ یې په صنف کې د شیعه ؤ په اړه بحث وکړ او هغوی یې په مطلق ډول کافر وګڼل. و یې ویل چې د شیعه ؤ یوه بله فرقه چې ځان ته اسماعیلي وایي په یو اسماني دین هم برابر نه دي، مذهبي مناسک او د عبادت طریقې یې په هیڅ دین کې نه راځي او په همدې دلیل نشو کولای هغوی د آسماني دینونو برخه وشمیرو.» [63]

یو بل مرکه شوي په پوهنتون کې د تحصیل د وخت د خپلې تجربې په اړه ویلي دي:
«کله چې طالبان واک ته ستانه شول، په پوهنتون کې مې د زده کړو پای ته رسیدو ته دوه سمستره پاتې ؤ. په هغه وخت کې یې مونږ ته یو کتاب د «اسلامي ثقافت» د مضمون په توګه تدریساوه، په ځینو برخو کې یې اسماعیلیه مذهب د یو منفور دین او مذهب په توګه معرفي شوی و. په دې کتاب کې ادعا شوې وه چې د اسماعیلیه مذهب پیروان ګمراه دي او له هغه وخته چې حضرت علي یې خپل خدای منلی، د خدای د کرکې وړ ګرځیدلي.» [64]

61 . د ملګرو ملتونو عالي کمیساري، ځانګړی ریوټ، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ۲۰۲۳ د فبروري ۹مه، ۱۰ ص. https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5284-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

62 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.

63 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.

64 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۶مه.

د دې درسي مضمون د منځپانګې په اړه بل مرکه شوي داسې ویلي دي:
د اسلامي ثقافت په دې مضمون کې ۳۵ شاوخوا صفحې د اسماعیلیه مذهب په اړه لیکل شوې دي چې یواځې دوه مورده یې سم دي: یو دا چې د اسماعیلیانو امام کریم نومیږي او دویم دا چې هغه د هارورډ پوهنتون فارغ التحصیل دی. نور ټول مطالب افترا او تهمت دی. د بېلګې په توګه ویل شوي چې اسماعیلیه مذهب څو بهرنیانو جوړ کړی، ګویا انګلیسانو او د بریتانیا استعمار دا مذهب جوړ کړی دی. همدا راز ادعا شوې چې اغاخان د اسماعیلیانو امام اصلاً انګلیس دی او د اسماعیلیانو مذهبي مسایل د استخباراتي سازمانونو لکه MI٦ او CIA له خوا طرحه شوي دي، چې موخه یې د مسلمانانو تر منځ د نفاق خپرول دي... دا کتاب په پوهنتونو کې د اسلامي ثقافت مضمون یوه سرچینه وه خو اوس د درسي نصاب برخه شوی ده.» [65]

رواداري په خپلواکه توګه او د بېلګې په ډول د «اسلامي ثقافت» مضمون د بدخشان، بغلان، ننګرهار او کندهار ولایتونو په پوهنتونونو کې ارزولی دی، چې دا ښيي دغه ډول منځپانګه لرونکی مضمون د یاد شویو ولایتونو د پوهنتونونو د درسي نصاب برخه ده. همدا راز، د طالبانو د سیمه ییزو قوماندانانو له خوا د اسماعیلیانو د ښکاره تکفیر ډېر شمېر موارد راپور شوي دي، لکه په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي:

«د طالبانو په راتلو سره د اسماعیلیانو پر وړاندې کرکه خپرول زیات شوي دي. د بېلګې په توګه په بدخشان ولایت کې د دې ډلې یو سیمه ییز قوماندان په یو غږیز کلیپ کې اسماعیلیانو ته ویلي چې هر څه وایاست مونږ تاسو د اسلام په دایره کې نه منو او زمونږ له نظره تاسو مسلمانان نه یاست، اوس مو زړه که خوشحالېږئ که خپه کېږئ.» [66]

یو مرکه شوي د دې تجربو د پایلو په وضاحت کې ویلي دي:
«دا ډول چلندونه زمونږ پر رواني امنیت منفي او ژور اغېز لري. داسې چې مونږ ځان د دې ټولنې غړي نه احساسوو او تل د پردیتوب حس لرو. د وېرې او نامنۍ احساس تل زما په وجود کې شته، ټول او په ځانګړي ډول ماشومان تل په وېره کې ژوند کوي.» [67]

وړاندې یو بل مرکه شوي ویلي، هغه کسان چې مخکې یې د اسماعیلیه ټولنې اړوند منفي او تکفیري نظر درلود، نن واک ته رسیدلي او په زور د دې ټولنې غړي تر فشار لاندې راولي:
«هغه منفي روایت او ذهنیت چې کلونه یې د اسماعیلیانو پر ضد درلود او هغوی ته یې بې دینه او کافر ویل، نن ورځ وسله وال شوي او واک په لاس کې لري. همدې ذهنیت نن د ټوپک او زور په مټ پر اسماعیلیه ټولنې فشار سخت کړی دی. د طالبانو د امربالمعروف اداره د همدې روایت او ذهنیت د پلي کولو په یوې مرجع اوښتې؛ دا هغه بنسټ دی چې هم وسله لري، هم ځواک لري او هم اجرایي واک. سربېره پر دې، د هغو مسجدونو امامان چې طالبانو سره اړیکه لري د دې تبعیضي او منفي نظر په پیاوړتیا او ترویج کې فعال نقش لري.» [68]

65 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
66 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
67 . رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲٦مه.
68 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

## ۲. کلامي تبعیض او له سپکاوي ډکې ټاپې

ټولو مرکه شویو ویلي چې د کلامي تبعیض بېلابېلې بڼې او له سپکاوي ډکې ټاپې د اسماعیلیه مذهب د پیروانو پر وړاندې په ټولنه کې موجودې وې، خو په تېرو څلورو کلونو کې پراخې شوې او لا ډېر دود شوې دي. د مرکه شویو د ځرګندونو پر بنسټ د «کافر»، «مرتد»، «روافض»، «مشرک»، «غالی»، «بې دینه»، «څراغ وژونکی»، «څراغ مړوونکی»، «غلاط»، «له څانه جوړ مذهب او د غرب او انګلیس د لاس روزلي»، «له محارمو سره واده»، «د حشیش او نشه یي توکو خلک» په څېر ټاپې هغه موارد دي چې هم د خلکو تر منځ او هم په کاري او تحصیلي چاپېریال کې د دې مذهب د پیروانو د سپکاوي او توهین لپاره کارېږي.

> یو مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:
> د اسماعیلیانو پر وړاندې ډېرې ټاپې او منفي تعبیرونه شته چې د طالبانو په راتلو لا دود شوي دي. هغه کلمې لکه روافض، مشرک، غالی، کافر او څراغ وژونکي له پخوا د دې مذهب د پیروانو په اړه موجودې وې خو اوس یې کارېدل زیات شوي دي.» [69]

> بل مرکه شوی چې د خپل مذهبي هویت له امله د کار په چاپېریال کې د پرله پسې تحقیر تجربه لري، داسې ویلي دي:
> «څو کاله وړاندې د طالبانو د حاکمیت پر مهال مې په یوه دولتي اداره  کې کار کاوه، کله مې چې مذهبي هویت ښکاره شو، یو مسئول ور وغوښتم او و یې ویل تاسو مشرکان یاست؟ و مې ویل چې نه زه په خدای باور لرم او مسلمان یم. تاکید یې وکړ چې نه تاسو اسماعیلیان مشرکان او کافران یاست. د جمهوریت پر مهال مې هم په همدې اداره کې کار کاوه او په شیعه کافر باندې مشهور وم، عموماً یې په همدې نوم راته غږ کاوه.» [70]

> همدا راز، یو شمېر مرکه شویو دې ته اشاره کړې چې دا له سپکاوي ډکې ټاپې په ځینو مواردو کې حتا د اسماعیلیانو د رهبر او مذهبي پیشوا په اړه هم کارول کیږي:
> «تل د اسماعیلیانو د مذهبي رهبر او پیشوا پر ضد د ټاپو یوه سلسله مطرح وه، لکه دا ادعا چې هغه د غرب او انګلیس روزلی دی، اسلام سره اړیکه نه لري او غیر اخلاقي چلندونه هغه ته منسوبیږي.» [۷۱]

> بل مرکه شوي ویلي دي:
> «هم یو شمېر خلک او هم طالبان مونږ اسماعیلیان کافر ګڼي او سپکاوی او توهین یې کوي. حتا اولادونه مې په مکتب کې تحقیروي او وایي چې تاسو مسلمانان نه یاست.» [72]

> یو مرکه شوي د خپلې تجربې په اړه ویلي دي چې:
> حتا یو شمېر همدا ۱۲ امامي شیعه ګان هم زمونږ پر وړاندې تعصب لري. ما د کار لپاره بېلابېلو ځایونو ته سفر کاوه او هرکله به چې د دین او مذهب خبره کېدله، ځینو یې ویل، یو بل مذهب د اسماعیلیه په

69 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹ مه.
70 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.
71 . راداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
72 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱٦مه.

نوم شته چې پیروان یې د «سید کیان» مریدان دي او کله چې واده کوي په اوله شپه ناوې خپل پیر ته ورولي. همدا راز ادعا کوي چې اسماعیلیان څراغ وژونکي دي، ډوډۍ یې حلاله نه ده او کور ته ورتلل یې سم کار نه دی. ما دا خبرې د دولس امامي شیعه مسجد د یو ملا له خولې په خپلو غوږونو اورېدلي دي.» [73]

بل مرکه شوي ویلي دي:
« د بدخشان ولایت په فیض آباد ښار کې د واده یو محفل ته تللی وم، ټول سني مذهبه ول او زما له مذهبي هویته نه ول خبر. له هغوی څخه یو شمېر کسانو په خبرو او بحث کې یو بل ته ډېر په صراحت وویل چې اسماعیلیان کافر دي. که مسجد ته ځي زمونږ له وېرې ځي، که لمونځ کوي سم یې نه کوي، اودس نه کوي او د نمایش او چل لپاره راځي.»[74]

یو بل مرکه شوي ویلي دي:
«د ټولنې په عمومي فضا کې ډېر ځل له تمسخر، سپکاوي او حتا له ګواښ سره مخامخ شوی یم. د بېلګې په توګه، یو ځل له څو عادي کسانو سره وم او په خبرو کې ورسته له هغې چې پوه شول زه اسماعیلي یم، یو یې وویل: تاسو مسلمانان نه یاست او باید ووژل شئ.» [75]

ترلاسه شوي اطلاعات ښيي چې دا ډول تاپې حتا په اکاډمیکو بنسټونو کې هم شته او د اسماعیلیه مذهب د پیروانو د سپکاوي لپاره کارول کیږي. لکه څنګه چې یو تن مرکه شوي ویلي دي:

«د اسلامي ثقافت د مضمون استادانو هم د جمهوریت په دوره کې او هم د طالبانو پر مهال ډېر ځل پوښتلی یم چې تاسو د «څراغ مړ» په نوم مراسم لرئ یعنې جماعت خونې ته ځئ، څراخونه مړه کوئ او بیا نران له ښځو سره غیر اخلاقي عمل ترسره کوئ، فرق نه کوي چې خور یې ده، مور یې ده یا یې ښځه ده. دا خبرې ډېرې ستغې او ځوروونکې وې، لومړی ځل و چې اورېدلې مې، هر څه مې چې قسم کولو او هڅه مې کوله استادانو ته وضاحت ورکړم چې دا شی نه یواځې د اسماعیلیانو په ټولنه کې بلکې په هیڅ فرهنګ کې ممکن نه دی، نه یې منله. هغوی ته مې وضاحت ورکاوه چې د ښځو او نارینو په یوځای کې لمونځ کول د غیر اخلاقي چلند معنا نه لري، بلکې په داسې پروګرامونو کې د ښځو او نارینو په یو وخت ګډون د اسماعیلیه ټولنې د انساني لیدلوري ښکارندویي کوي.» [76]

په تېرو څلورو کلونو کې طالبانو نه یواځې د مذهبي تبعیض د مخنیوي او د کرکې خپرولو د عاملانو د تعقیب لپاره پر خپل مسئولیت عمل نه دی کړی، بلکې د یو شمېر مرکه شویو د ویناوو پر بنسټ، د دې وضعیت په سختوالي کې یې پخپله نقش درلودلی. ښکاره تکفیر، منفي تبلیغاتو او د اسماعیلي شیعه ګانو توهین او سپکاوي، له یوې خوا د هغوی د مناسکو او مذهبي اعمالو په ترسره کولو کې د هغوی آزادي محدوده کړې ده او له بل پلوه د هغوی د رواني ناامنی،

73 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۵مه.
74 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۸ اکتوبر ۲۰۲۵.
75 . رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲٦مه.
76 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲٦مه.

وېرې او ټولنيزې انزوا د زياتېدو لامل شوی، چې د بشر حقونو د سرغړونو له خورا سختو بڼو څخه شمېرل کيږي.[77]

## ۳. د اسماعيليانو د ډوډۍ نه خوړل

د دې راپور معلومات ښيي چې په افغانستان کې د اسماعيليه ټولنې پر وړاندې د تبعيض يوه بله بڼه د دې ټولنې د غړو له خوا د برابرو شويو خوړو څخه د ډډې کولو تبليغ دی. لکه څنګه چې ۱٦ تنو مرکه شويو په دې څېړنه کې ويلي چې د اسماعيليانو د خوړو د حرام ګڼلو او ورڅخه د پرهيز کولو په اړه تبليغ، په ځانګړي ډول په تېرو څلورو کلونو کې زيات شوی دی. که څه هم د هغوی په وينا دا باور اوږده مخينه لري او له ډېر وخت راهيسې تر ننه دوام لري.

مرکه شويو همدا راز تاکيد کړی دی چې دا ډول ليدلوری دا مهال هم په يوه برخه خلکو کې او هم د طالبانو په غړو کې شته؛ هغه څه چې د دې مذهبي اقليت پر وړاندې د لا نورو تبعيضي چلندونو د پراختيا زمينه يې برابره کړې. يو مرکه شوي، چې خپله د داډول چلند تجربه لري، داسې ويلي دي:

«... يوه ورځ مې د طالبانو له يو غړي سره په ګډه ډوډۍ خوړله هغه په خبرو کې وويل چې اسماعيليان کافر دي. ما ځواب ورکړل چې زه خپله اسماعيليه يم او مسلمان يم. هغه هماغه شېبه له خوراک لاس واخيست او نور حاضر نشو چې ما سره يوځای خواړه وخوي.» [78]

همدا راز، بل مرکه شوي ويلي دي:
د کابل ولايت په يوه ولسوالۍ کې هم اسماعيليان ژوند کوي، يو دوست مې له هغې ځايه راته ويل چې هغوی تل د نورو له سپکاوي او توهين سره مخامخيږي، اسماعيليان اغالي بولي او وايي چې د هغوی له کورونو ډوډۍ مه راوړئ، د هغوی ډوډۍ مه خورئ، ځکه ډوډۍ يې حرامه ده.» [79]

د هغه څه پر بنسټ چې مرکه شويو مطرح کړي دي، داسې موارد هم شته چې د اسلامي مذاهبو ټول پيروان له ګډ ژوند سره سره چې په يوه سيمه کې د اسماعيليه مذهب له پيروانو سره اوسيږي، لا هم د هغوی د ډوډۍ له خوړلو ډډه کوي. په دې اړه يو مرکه شوي داسې ويلي دي:

«خپله مې داسې تجربه نه ده درلودلې، خو په افغانستان کې خپلوان او هم مذهبه مې په تېرو څلورو کلونو کې د خپلو ګاونډيانو له خوا نه منل کېدل او هغوی سره يې ډوډۍ نه خوړله، ځکه باور يې درلود چې مونږ کافران يوو.» [80]

يو بل مرکه شوي ويلي دي:
«د يو شمېر خلکو تر منځ جدي باور دی: لومړی، هغه ډوډۍ چې اسماعيليان يې پخوي حلاله نه ده او بايد و نه خوړل شي او دويم، دا چې اسماعيليان حمام ته نه ځي او خپل بدن نه وينځي، بد بوی کوي. کله چې داسې باورونه له ماشومتوبه يو کس ته وويل شي تر لوی والي دا باور په هغه کې په

77 . د مدني او سياسي حقونو ميثاق، ۱۸ ماده او د ۲۰ مې مادې ۲ بند.
78 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.
79 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲مه.
80 . رواداري، ۱۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.

ذهني ښېلګه بدلېږي او که اسماعیلیان د ورځې لس ځلې هم حمام وکړي، بیا یې هم ذهنیت نه بدلېږي.» [81]

یو بل مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:
«د سیمې یو شمېر ځوانانو پیسې راټولې کړې چې د کلي ښوونځی جوړ کړي، د دې پروګرام د پرانستې لپاره یې غټ پروګرام برابر کړ او په ولسوالۍ او ولایت کې یې سیمه ییز مسئولین ور وبلل. د طالبانو سیمه ییز مسئولین د بغلان ولایت له مرکز پلخمري ښار څخه راغلل خو د ولسوالۍ د معارف مدیر او کارمندان یې چې ډېری یې د سیمې خلک ؤ، نه یواځې زمونږ په پروګرام کې یې ګډون ونکړ بلکې تبلیغ یې کاوه چې مونږ نه درځو ځکه د اسماعیلیانو ډوډۍ حرامه ده.» [82]

## د اسماعیلیانو له خوا د حیواناتو د ذبحې حرام ګڼل

د دې څېړنې له ټولو مرکه شویو څخه ۱۲ تنو یې ویلي چې د ټولنې، طالبانو او مذهبي بنسټپالو ډلو په منځ کې یو رایج ناسم براشت دا دی چې د اسماعیلیانو له خوا د حیواناتو ذبحه حرامه ګڼي. لکه څنګه چې یو مرکه شوي تن په دې اړه ویلي دي:

«که یو اسماعیلي کس قصابي ولري، څوک ترې غوښه نه اخلي او وایي چې د اسماعیلیانو له خوا د حیواناتو ذبحه حلاله نه ده. زمونږ په کلي کې یو تن قصابي لري خو د حیواناتو حلاله یې د یو سني کس له خوا کیږي چې خلک ترې غوښه واخلي.»[83]

همدا راز، یو بل مرکه شوي ویلي دي:
«له پخوا هم یو شمېر کسانو تبلیغات کول او ویل یې چې د اسماعیلیانو له رستورانت څخه خواړه مه خورئ چې هغوی پکې میتیازې کوي. همدا راز ویل کیږي چې د اسماعیلیانو له خوا د حیواناتو ذبحه کول حرام دي او باید د اسماعیلیانو له خوا ذبحه شوي حیوانات و نه خوړل شي.» [٨٤]

بل مرکه شوي ویلي دي:
«له بده مرغه په ځینو سیمو کې او د ټولنې په کچه د اسماعیلیانو پرو ړاندې تبعیض شته او زما د اوسېدو په سیمه کې داسې کسان شته چې باور لري اسماعیلیان مسلمانان نه دي. د بېلګې په توګه که یو اسماعیلي یو ګډ ذبحه کړي، غوښه یې نه خوري او د اسماعیلیانو له خوا د حیواناتو ذبحه کول حلال نه ګڼي.» [٨٥]

81 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
82 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۷مه.
83 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۳مه.
84 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۸مه.
85 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.

> ❞ یو بل تن مرکه شوي ویلي چې طالبان په ښکاره دې تبلیغ ته لمن وهي او خلک تشویقوي چې د اسماعیلي شیعه ګانو له قصابۍ خوښه وانخلي:
> «... یو کال وړاندې طالبانو د بدخشان ولایت په کشم ولسوالۍ کې اعلان وکړ چې له اسماعیلي شیعه ګانو غوښه وانخلئ، ځکه د هغوی په لاس د حیواناتو ذبحه کول حلال او جایز نه دي.» [۸۶]

د اسماعیلیانو د خوړو د حرام ګڼلو په اړه تبلیغ او نه خوړل یې د مذهب پر بنسټ د تبعیض ښکاره بېلګه او د هغوی د انساني کرامت نقض ګڼل کېږي. [۸۷] ځکه د دې راپور پر بنسټ د دا ډول کلیشو ترویج او د مذهبي کرکې د ذهنیتونو سختوالی، د رواني فشارونو لامل او د دې مذهبي اقلیت د غړو پر ټولنیز ګوښه توب تمام شوی دی. سره له دې، طالبانو نه یواځې د دا ډول له تبعیضه ډکو چلندونو د مخنیوي لپاره خپلې قانوني دندې ته پاملرنه نه ده کړې؛ بلکې په مخامخ ډول یې د دې وضعیت په لا خرابولو کې نقش درلودلی دی.

### ۴. له اسماعیلي کورنیو سره د واده او خپلوۍ ممنوعیت

له مذهبي اقلیتونو سره د واده او خپلوۍ ممنوعیت د مذهب پر بنسټ د تبعیض یوه تر ټولو جدي بڼه او د بشر حقونو نقض ګڼل کېږي. ځکه د بشر حقونو بین المللي اسناد لکه د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق د واده او کورنۍ جوړولو حق د ښځو او نارینو لپاره په رضایت او د قانوني عمر پوره کولو سره مشروط کړی او له مذهبي تعلقاتو او هر بل تمایز پرته یې په رسمیت پېژندلی دی. [۸۸]

سره له دې، د دې څېړنې له ټولو مرکه شویو څخه ۱۱ تنو یې ویلي چې له اسماعیلي کورنیو سره د واده او خپلوۍ ممنوعیت د پام وړ زیات شوی دی. د مرکه شویو د څرګندونو پر بنسټ، طالبان او له هغوی سره تړلي روحانیون په ښکاره له اسماعیلي کورنیو سره د خپلوۍ د ممنوعیت په اړه تبلیغ کوي. یو مرکه شوي په دې اړه داسې ویلي دي:

> ❞ «جمعه خان فاتح او نور کسان لکه مولوي اقرار څو ځل په مسجدونو کې اعلان کړی چې هیڅوک حق نه لري له اسماعیلیه کورنیو سره دوستي او خپلوي ولري. هغوی تاکید کړی چې له اسماعیلي نارینو او ښځو سره نکاح حرامه ده، نه هغوی ته لور ورکړئ او نه ترې ښځه وکړئ.» [۸۹]

> ❞ بل مرکه شوي ویلي دي:
> «په بغلان ولایت کې د طالبانو د علماوو د شورا یو غړي د جنازې په مراسمو کې وویل چې له اهل تشیع سره د واده هیڅ ډول پیوند جواز نه لري. هغه وویل چې دولس امامي شیعه ګان مشرک او رافضي او اسماعیلي شیعه ګان «دهري» دي او حتا د هغوی په اړه خبرې کول سم کار نه دی. دهري یعنې هغه کس چې نه خدای پېژني او نه پیغمبر او نه د اسلام دین اصول.» [۹۰]

86 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۶مه.
87 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲مه ماده، ۲۶مه ماده، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه لومړۍ ماده.
88 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲۳مه او ۲۶مه ماده.
89 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
90 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.

يو بل مرکه شوي له اسماعيلي کورنيو سره د خپلوۍ د ممنوعيت په لپاره د طالبانو له خوا ښکاره تبليغاتو ته په اشارې ويلي دي چې په ځينو مواردو کې اسماعيلي نجونې له واده وروسته تر فشار لاندې راځي چې خپل مذهب بدل کړي:

«طالبان په ښکاره وايي چې له اسماعيليه مذهبو سره د سني مذهبه نجونو واده او برعکس يې جواز نه لري. يوې اسماعيلي نجلۍ له يو اهل سنت سړي سره واده کړی و، او مېړه يې پرې فشار راووړ چې خپل مذهب بدل کړي. خو کله چې نجلۍ دې کار ته حاضره نشوه، د مېړه له خوا يې طلاقه شوه. دې نجلۍ سره يې ډېر تاوتريخوالی کړی و حتا بډوډی يې هم ترې ويستی و او پلورلی يې و.» [٩١]

يو بل مرکه شوي له اهل سنت ښځې سره له واده وروسته د مذهب بدلون ته د اسماعيلي نارينه وو د اړيستلو په اړه داسې ويلي دي:

«زمونږ د کلي يو اسماعيلي ځوان له يوې اهل سنت نجلۍ سره واده کړی و، طالبانو په دې اسماعيلي ځوان کلمه تېره کړه او نوم يې هم ور بدل کړ. هغه يې جماعت خونې ته له تلو منعه کړ او ويل يې چې بايد مسجد ته لاړ شي او پينځه وخته لمونځ وکړي.» [٩٢]

بل مرکه شوي ويلي چې په افغانستان کې له اسماعيلي کورنيو سره د خپلوۍ ممنوعيت اوږده مخينه لري، هغه زياتوي:

«دا مساله له طالبانو مخکې او د جمهوريت په شلو کلونو کې هم وه، سمه ده چې هغه مهال طالبان په واک کې نه ؤ خو د هغوی ذهنيت پر ټولنه حاکم ؤ. داسې چې د اهل سنت د يوې نجلې واده له اهل تشيع يا اسماعيلي نارينه سره ناروا او منعه ګڼل کيده. خو واک ته د طالبانو د راستنېدو راهيسې، دا مساله خپل اوج ته رسېدلې ده.» [٩٣]

91 .رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۳مه.

92 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.

93 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

## له اهل سنت ښځو سره د اسماعیلي نارینو د واده اجباري فسخه کول

د مرکه شویو د ویناوو پر بنسټ، په هغو مواردو کې حتا د طالبانو امر بالمعروف ادارې او محکمو له اسماعیلي نارینو سره د حنفي مذهبه ښځو د واده د فسخه کولو حکم کړی دی؛ دا وضعیت په کورنیو اړیکو کې د طالبانو د دین او قضایي بنسټونو د مستقیمې مداخلې ښکارندوی او د مذهبي تعلقاتو پر بنسټ تبعیض دی.

یو تن مرکه شوي په دې اړه داسې ویلي دي:
په بغلان ولایت کې لس میاشتې مخکې یو اسماعیلي سړي د اهل سنت د پیروانو له یوې نجلۍ سره کوژده وکړه. دا کوژده د دواړو خواوو په رضا شوې وه؛ خو کله چې د طالبانو د امر بالمعروف اداره له دې موضوع خبره شوه، د هغوی کوژده یې فسخه کړه او اسماعیلي سړی یې توهین او تحقیر کړ. د امربالمعروف ادارې مامورینو ورته ویلي ؤ چې لاړې درس دې ولوست او تحصیل دې وکړ چې انسان شې خو ځاروی شوې او په داسې مذهب عقیده لرې چې آتش پرستي او غوا پرستي ترې بهتره ده او هندوان په تا ډېر شرف لري. هغه یې ګواښلی و او د کوژدې تر فسخه کولو د دې ادارې مامورین هره ورځ د هغه کور ته ورتلل.» [94]

یو شمېر مرکه شویو داسې مواردو ته اشاره کړې چې پکې د طالبانو محکمو له اهل سنت ښځو سره د اسماعیلي نارینو د واده د فسخه کولو حکم کړی دی. په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي چې:

«کله چې طالبان له یو اسماعیلي نارینه سره د یوې اهل سنت نجلۍ له واده خبر شول قضیه یې محکمې ته راجع کړه او د بدخشان ولایت د مرکز محکمې پرېکړه وکړه چې دا واده سم نه دی او له اسماعیلي هلک سره د سني نجلۍ واده جواز نه لري. البته دا ډول موارد مخکې هم موجود ؤ، په دې معنا چې ویل کېدل د اهل سنت نجلۍ واده له اسماعیلي ښځې سره جایز نه دی، خو له اسماعیلي نجلۍ سره د اهل سنت سړي واده ستونزه نه لري، ځکه سړی کولای شي وروسته پر نجلۍ نفوذ ولري او هغه اسلام ته راوبلي. پر همدې بنسټ، دا مسله مخکې او د جمهوریت په دوره کې هم په یو ډول موجوده وه، خو اوس چې طالبان واک ته رسیدلي دي او دا چې رسنۍ، پوښتنه کول او اعتراض نشته، هغوی په ښکاره وایي چې اسماعیلي هلک له سني نجلۍ سره د واده حق نه لري.» [95]

بل مرکه شوي ویلي دي:
«ځو میاشتې مخکې یوه اهل سنت نجلۍ  په بدخشان ولایت کې له یو اسماعیلي هلک سره کوژده وکړه. د کوژدې یې یوه میاشت تېره شوې وه چې طالبان خبر شول او دواړه یې محکمې ته یوړل. پر هلک یې فشار راوړ چې یا خپل مذهب بدل کړي یا له دې نجلۍ سره له واده تېر شي، ځکه د طالبانو په وینا له یو اسماعیلي شیعه سړي سره د یوې مسلمانې نجلۍ واده حرام دی. دواړو خواوو تاکید وکړ چې غواړي واده وکړي، خو طالبانو و نه منله او و یې ویل تاسو په خپل زړه نه یاست، دلته اسلامي قوانین حاکم دي. دا چې هلک او نجلۍ د کوژدې په فسخه کولو راضي نه شول، دواړه یې یوه میاشت

94 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
95 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۸مه.

په زندان کې واچول او په دې موده کې یې هلک دومره شکنجه کړ چې هغه اړ شو له خپلو مصارفو تېر شي او د کوژدې فسخه کولو ته غاړه کېږدي. اوس د هلک او نجلۍ دواړه کورنۍ د طالبانو په کنټرول کې دي چې یوبل سره اړیکه و نه لري.» [٩٦]

یو بل مرکه شوي ویلي دي:
«څه وخت مخکې یو اسماعیلي هلک له یوې اهل سنت نجلۍ سره واده کړی و، خو د نجلۍ کورنۍ د طالبانو محکمې ته شکایت کړی و، دا چې هلک اسماعیلي شیعه دی نو مسلمان نه دی او د هغوی واده باید فسخه شي. محکمې هم د واده د فسخه کولو حکم ورکړ. په ډېرى مواردو کې که یو څوک له اسماعیلي شیعه ګانو څخه یوې سنې مذهبه کورنۍ ته په مرکه ورځي، د نجلۍ کورنۍ باید له طالبانو اجازه واخلي.» [٩٧]

له اسماعیلي کورنیو سره د واده او خپلوۍ ممنوعیت سره له دې چې د واده او کورنۍ د تشکیل د حق ښکاره سرغړونه ګڼل کیږي، خو یواځې د کورنیو اړیکو تر برخې محدود نه دی، بلکې په عمل کې په ټولو ټولنیزو برخو کې د دې مذهبي اقلیت پر ضد د تبعیض د ژورېدو او زیاتېدو لامل شوی دی.

راټول شوي اطلاعات ښیي چې طالبانو دا ډول له تبعیضه ډکو کلیشو سره د مبارزې لپاره نه یواځې پر خپلو قانوني دندو عمل نه دی کړی، بلکې په ډېرى مواردو کې یې د خپلو قضایي بنسټونو له لارې له اهل سنت ښځو سره د اسماعیلي نارینو د واده د فسخه کولو اقدام کړی دی؛ هغه څه چې په ښکاره د بشر حقونو له بین المللي اسنادو سره په ټکر کې دي او د مذهب او جنسیت پر بنسټ د تبعیض نه کولو او برابرۍ د اصل ښکاره نقض ګڼل کیږي.

96 . راداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲٦مه.
97 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.

# د مذهبي مناسکو د ترسره کولو آزادي



د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق په ۲۷مه ماده کې په صراحت راغلي چې په هغو هیوادونو کې چې مذهبي اقلیتونه موجود دي، د دې اقلیتونو اړوند کسان باید له خپل فرهنګ څخه د برخمنېدو او دیني فرایضو ترسره کولو څخه محروم نه شي. ۹۸ همدا راز د دې میثاق په ۱۸مه ماده کې تاکید شوی چې د مذهب یا معتقداتو د څرګندولو آزادي په فردي یا جمعي ډول په علني ډول یا په پټه د ټولو وګړو حق دی. دا حق د عباداتو ترسره کول، د مذهبي مراسمو او مناسکو جوړول او د مذهبي تعلیماتو او ښوونو وړاندې کول رانغاړي. [99]

سره له دې، له ټولو مرکه شویو څخه ۲۲ تنو یې ویلي چې په تېرو څلورو کلونو کې او په افغانستان کې د طالبانو د بیا واکمنېدو راهیسې، د اسماعیلیانو د مذهبي مناسکو د ترسره کولو آزادي سخته محدوده شوې ده. د هغوی د څرګندونو پر بنسټ، طالبانو د دې ټولنې د فرهنګي او مذهبي مراسمو په جوړولو سخت محدودیتونه لګولي دي. ترلاسه شوي اطلاعات همدا راز ښیي چې دا محدودیتونه په کابل ښار کې د نورو ولایتونو په پرتله، په ځانګړي ډول د بدخشان او بغلان ولایتونو په پرتله کم راپور شوي دي.

سره له دې، یو مرکه شوي د اسماعیلي شیعه مذهبو د مناسکو او دودونو د ترسره کولو د آزادۍ محدودېدلو په اړه داسې ویلي دي:
د مخکني حکومت پر مهال، د آمو سیند په اوږدو کې د دروازونو په ولسوالیو کې چې اوسیدونکي یې ډېری اسماعیلیان دي، د پولې له دواړو غاړو څخه د دې مذهب د پیروانو په پراخ حضور سره په ډېر پرتمین ډول د اسماعیلیانو د امام د تخت نشینۍ کلیزه لمانځل کېده. همدا راز، په دې مناسبت په جماعت خونو، هوټلونو او نورو اسماعیلي مېشته سیمو کې او د بدخشان ولایت په مرکز کې هم د دولتي مقاماتو او د دې مذهب د پیروانو په حضور کې دا ورځ لمانځل کېده. خو د طالبانو له تسلط راوروسته، نور څوک د دا ډول مراسمو د ترسره کولو جرات نه لري او خلک نشي کولای حتا د جماعت خونو یا وړو او لویو حلقو په کچه په آزادانه ډول مراسم جوړ کړي.» [100]

له وضعه شویو محدودیتونو او د مذهبي مراسمو له علني جوړولو څخه د راپیدا شویو پایلو په اړه یو بل مرکه شوي ویلي دي:
«په هغه ځای کې چې مونږ ژوند کوو، د طالبانو له وېرې خپل مذهبي مراسم په پټه جوړول او له مونږ پرته بل هیڅوک خبر نه و. جماعت خونې ته تلو خو پټ، داسې چې څوک متوجه نه شي د عبادت لپاره ځو. په وروستیو ورځو کې او د خپل اوسېدو د ځای له پرېښودو مخکې حتا جماعت خونې ته هم نشو تللی. البته په هغه ځای کې چې د اسماعیلیانو نفوس زیات دی دا محدودیتونه کم دي.» [101]

یو بل مرکه شوي کس د اسماعیلي شیعه ګانو د فرهنګي او مذهبي جشنونو د جوړولو د ممنوعیت په اړه داسې ویلي دي:
«د بدخشان ولایت په زیباک ولسوالۍ کې د دیوانه شاه زیارت د اسماعیلیانو د درناوي وړ یو مذهبي ځای و چې د حوت پر ۱۴مه هر کال خلکو د غوا په حلالولو او د سیمه ییزو خوړو په برابرولو هلته د «د

98 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۲۵مه ماده.
99 . هماغه سرچینه، ۱۸مه ماده.
100 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
101 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۶مه.

دیوانه شاه نوروز» په نامه پرتمین جشن جوړاوه، چې موسیقي، سندرې، رقص، نبنه ویشتل، بزکشي، د منډې مسابقه او اسپ ځغلونه پکې کېده. د جشن له پای ته رسېدو وروسته د سیمې بزګران د زیارت متولي ته ورتلل او هغه تولو ته دعا کوله، ورسته خلکو د حوت له پینځه لسمې وروسته دهقاني او بزګري پیلوله. کله چې طالبان راغلل دا مراسم یې منعه اعلان کړل.... همدا راز ځو ورځې مخکې نامعلومو کسانو دغې زیارت ته چې یو تاریخي میراث ګڼل کیږي، اور ورته کړ، او ډېرې برخې یې اور وسوځولې. البته د کورنیو جګړو پر مهال هم دا زیارت څو ځل سپړل شوی و.» [۱۰۲]

یو شمېر مرکه شویو داسې مواردو ته هم اشاره کړې چې طالبانو د اسماعیلیانو مذهبي مراسمو او پروګرامونو جوړولو ته اجازه نه ده ورکړې. په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي:

«د ۲۰۲۲ کال په لومړیو کې کله چې اسماعیلیانو غوښتل خپل مذهبي مراسم او جشنونه جوړ کړي، نژدې امنیتي حوزو ته یې مراجعه کړې وه او د ترسره کولو لپاره یې اجازه غوښتې وه. هغوی حتا تعهد ورکړی و چې ښځې به حجاب رعایتوي، له نارینو سره به یوځای نه وي او د ښځو او نارینو لپاره بېلې د ننوتلو دروازې په نظر کې نیسي. سره له دې، طالبانو و نه منله او ادعا یې وکړه چې تاسو په دې پروګرامونو کې د ښځو او نارینو د برابرۍ، ډیموکراسۍ، آزادۍ په اړه او ګمراه کوونکي بحثونه کوئ.»[۱۰۳]

یو بل مرکه شوي د اسماعیلیانو د عبادي او مذهبي مراسمو په جوړولو کې د مزاحمت کولو په اړه ویلي دي:
«وروسته له هغې چې طالبان واک ته ورسېدل، د بغلان ولایت په دهنه غوري ولسوالۍ کې د اسماعیلیانو یو عبادتځای ته ورغلل، له خلکو یې عکاسي وکړه، مزاحمت یې وکړ او ویل یې چې دوی څه ډول عبادت کوي.» [۱۰۴]

سره له دې، یو شمېر مرکه شویو ویلي دي چې په کابل ښار کې د مذهبي مراسمو د جوړولو محدودیت کم دی. په دې اړه یو مرکه شوي داسې ویلي دي:
«په کابل ښار کې د مذهبي مراسمو جوړول کوم محدودیت نه لري او په هغو ورځوکې چې پروګرام لرو حتا د طالبانو ځواکونه زمونږ د مذهبي ځایونو امنیت نیسي. په کلیو کې هم خلک جماعت خونو ته ځي او عبادت کوي خو له دې ځایونو بهر د مذهبي مراسمو ترسره کولو له امله له تبعیض سره مخ کیږو.»[۱۰۵]

102 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۸مه.
103 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړی.
104 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲مه.
105 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.

بل مرکه شوي ویلي دي:

«له نیک مرغه په کابل ولایت کې اسماعیلي ښځې او نارینه کولای شي په جماعت خونو کې حتی په مختلط ډول عبادت وکړي. سهار او ماښام زمونږ ښځې او نران جماعت خونو ته ځي او په دې اړه طالبانو تر اوسه اجازه ورکړې ده... خو د مذهبي ښوونې له اړخه یې سخت محدودیتونه وضعه کړي دي چې زمونږ د اندېښنې وړ دي.» [۱۰۶]

د دې څېړنې د موندنو پر بنست، د اسماعیلیانو د مذهبي مناسکو او اعمالو پر آزادۍ محدودیت، په ځانګړي ډول په بدخشان او بغلان ولایتونو کې یوه تصادفي پېښه نه ده، بلکې د متفاوتو مذهبي عقایدو او باورونو اړوند د طالبانو د سیاست د یوې برخې په توګه متفاوت دي. دا محدودیتونه د مدني او سیاسي حقونو په بین المللي میثاق کې چې د مذهبي مناسکو آزادي او له فرهنګ او مذهبي ښوونو څخه د برخمنېدو حق یې د ټولو وګړو لپاره تضمین کړی دی، د بین المللي تعهداتو سرغړونه او د بشر حقونو نقض ګڼل شوی دی.

## د نورو په عبادي مراسمو کې ګډون ته اړیستل

د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق په صراحت سره تاکید کړی چې هیڅوک باید تر اجبار او فشار لاندې د خپلو باورونو او عقایدو بر عکس د عبادي او مذهبي اعمالو ترسره کولو ته مجبور نه کړای شي. [۱۰۷] پر همدې بنسټ، په جبر، ټولنیز فشار یا له سیاسي او نظامي ځواک څخه په ناوړې ګټې اخستنې د نورو په مذهبي مراسمو کې ګډون ته اړیستل د مذهبي تبعیض ښکاره مصداق او د وګړو د انساني کرامت نقض ګڼل کیږي. [۱۰۸]

سره له دې، د دې څېړنې معلومات ښيي چې طالبانو او په ځانګړي ډول د هغوی د امربالمعروف اداري په زور او ګواښ سره، د اسماعیلي مذهب پیروان په ځینو ولایتونو کې د نورو مذهبي او عبادي مراسمو ترسره کولو ته اړیستلي دي. لکه څنګه چې له ټولو مرکه شویو څخه ۷ تنو یې ویلي دي چې په تېرو څلورو کلونو کې یې د نورو په عبادي او مذهبي مراسمو کې په زوره د ګډون تجربه درلوده، او هم یې له داسې ۹ تنو سره خبرې کړې دي چې په دې کار مجبور کړای شوي دي.

یو مرکه شوي ویلي دي:

«یوه ورځ د بغلان ولایت کې یو تن د امربالمعروف مامور راته وویل چې د مازیګر لمانځه وخت دی او باید جماعت ته لاړ شې، ما ځواب ورکړل چې اهل تشیع او اسماعیلیه یم او خپل لمونځ وروسته کوم. هغه تاکید وکړ چې باید همدا اوس د جماعت لمونځ ته لاړ شم، ما استدلال وکړ چې زمونږ مذهبي احکام توپیر لري خو و یې نه منله. بالاخره په تاوتریخوالي او تیري یې پیل وکړ، ما مقاومت وکړ او له ډېر شور وروسته خلک راټول شول او ما هماغه شببه سیمه پرېښوده.» [۱۰۹]

106 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اتوبر ۳مه.
107 . هماغه سرچینه، ۱۸مه ماده.
108 . هماغه سرچیه، ۲٦مه ماده.
109 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.

يو بل مرکه شوي ويلي دي چې طالبان د اسماعيلي مذهب پيروان په ځينو سيمو کې تر فشار لاندې راولي چې ديني مناسک له حنفي فقهې سره سم ترسره کړي. او وضاحت يې ورکړی دی:
«... په بدخشان ولايت کې د هغو محدوديتونو له امله چې لګول شوي دي اسماعيليان نشي کولای په آزادانه ډول خپل مذهبي مراسم او مناسک ترسره کړي. هغوی بايد مسجد ته لاړ شي او د حنفي مذهب د پيروانو په څېر پينځه وخته لمونځ وکړي... د سنيانو په طريقه روژه ونيسي او عشر و زکات ورکړي. دا ټول موارد د اسماعيليانو په مذهب کې هم شته خو په نورو طريقو. البته طالبان اسماعيليانو ته نه وايي چې جماعت خونې ته دې نه ځي؛ خو وايي چې بايد مسجد ته راشي او په مونږ پسې دې پينځه وخته لمونځ وکړي، وروسته يې واک خپل دی چې له دې پينځه وختونو زيات جماعت خونې ته هم ځي که نه.» [110]

بل مرکه شوي ويلي دي:
«د بدخشان ولايت په زيباک ولسوالۍ کې د امربالمعروف مامورين سهار وختي د اسماعيليانو کورونو ته ورځي، د هغوی کورونو ته دروازې ټکوي او هغه نارينه چې د لمانځه پر مهال مسجد ته نه وي تللي په يخو اوبو لمدوي. زه يوه شپه د يو خپلوان په کور کې ميلمه وم، سهار وختي د طالبانو د امربالمعروف مامورينو دروازه وټکوله، ترور مې دروازه خلاصه کړه او هغوی ته يې وويل چې زوی يې لمانځه ته تللی دی. څو دقيقې وروسته متوجه شوم چې د ګاونډي د سړي فرياد او زارۍ پورته شوې چې طالبانو ته يې ويل، د شپې کار يې کړی دی او له ډېرې ستړيا يې ونشول کولای سهار وختي لمونځ وکړي. خو طالبانو هغه يووړ او په يخو اوبو کې يې وغورځاوه او پوښتل يې چې نور څوک د جماعت لمونځ ته نه دي تللي.»[111]

سربېره پر دې، يو شمېر مرکه شويو ويلي چې طالبانو په ځينو سيمو کې د اسماعيلي شيعه ګانو په عبادتځايونو کې سني مذهبه روحيانيون ګمارلي دي چې لمونځ او نور عبادي دودونه د حنفي فقهې مطابق ترسره کړي. په دې اړوند يو مرکه شوي داسې ويلي دي:

«مخکې مونږ د اختر او جمعې لمونځه ببل او د خپلو مذهبي احکامو پر بنسټ ترسره کول، خو اوس طالبانو يو سني مذهبه امام معرفي کړی دی او مونږ ته لمونځ راکوي. د سيمې ټول اوسيدونکي او لمونځ کوونکي اسماعيليه دي، خو ملا امام يې سني مذهبه دی. همدا راز، د «خيلر»، «بر او کوز وادو توبې» او «قلعه بندي» قريو په مسجدونو کې چې د اسماعيليانو له خوا جوړ شوي دي اوس پکې د حنفي مذهب په طريقه لمونځونه کيږي.» [112]

د خپلو باورونو او عقايدو پر خلاف د مذهبي مناسکو او اعمالو ترسره کولو ته د اسماعيلي شيعه ګانو اړيستل، چې د طالبانو د مذهبي تبعيض او ځپونکو سياستونو يوه برخه ده، د بين المللي الزامي اسنادو مطابق، د بشر حقونو له خورا سختو مصاديقو څخه ګڼل کيږي. [113] ځکه، ترلاسه شوي اطلاعات ښيي چې طالبانو د خپلو قانوني دندو پر خلاف، د

110 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
111 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۶مه.
112 . رواداري، ۱۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۰مه.
113 . د مدني او سياسي حقونو ميثاق، ۱۸ مه او ۲۶ مه ماده.

ځواک په کارونې او د ګواښ، جبر او ټولنيز فشار له لارې د اسماعيليه مذهب پيروان د هغوی د مذهبي باورونو مخالفو عبادي اعمالو ترسره کولو ته اړيستي دي.

## په ښوونيزو بنسټونو او عبادتځايونو د محدوديتونو پلي کول

د بشر حقونو کمېټې د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق د ۱۸ مې مادې په تفسير کې تاکيد کړی چې د ښوونيزو مرکزونو او مذهبي مدرسو رامنځته کول د مذهبي آزادۍ د حق نه بېلېدونکې برخه ده او پر همدې دليل دولتونه دنده لري چې د دې مراکزو د اغېزناکې ساتنې لپاره لازم تدابير او اقدامات ترسره کړي. [۱۱۴]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې ۲۱ تنو مرکه شويو ويلي چې واک ته د طالبانو د بېرته راستنېدو راهيسې، د اسماعيليانو پر ښوونيزو مرکزونو او عبادتځايونو پراخ محدوديتونه لګول شوي دي. د مرکه شويو د څرګندونو پر بنسټ، دا محدوديتونه، د يو شمېر عبادي مرکزونو تړل، د اهل سنت پر عبادي ځايونو د اسماعيليانو د عبادتځايونو بدلول، د وېرې د فضا رامنځته کول او ښوونيزو مرکونو ته د خلکو د تګ راتګ کنټرولول دي.

> يو مرکه شوي د اسماعيلي شيعه ګانو د عبادي ځايونو د بندېدو په اړه داسې ويلي دي:
> «که څه هم په بغلان ولايت کې جماعت خونې لا هم فعالې دي، خو زه کم تر کمه په دې ولايت کې د اسماعيليانو د دعا له دوو مرکزونو خبر يم چې طالبانو په مسجدونو بدل کړي دي او اوس د اسماعيليه مذهب پيروانو ته د لاسرسي اجازه نه ورکوي. دا مرکزونه په واقعيت کې په مخکنيو مسجدونو پورې تړليو ودانيو خونې وې چې په هغو سيمو کې د اسماعيليانو نفوس کم دی، او د عبادي مسايلو د اجرا لپاره رامنځته شوې وې. د طالبانو د امربالمعروف اداري پر دې مرکزونو لاسپيکرونه ولګول او هغې ته يې امامان ټاکلي دي. طالبانو د خپل دې اقدام په توجيه کې ادعا کړې چې دا مراکزونه مخکې مسجدونه ؤ او په تېرو شلو کلونو کې ترې سمه او شرعي استفاده نه ده شوې. د دې مرکزونو اړوند د طالبانو اقدام چې له شلو کلونو زيات د اسماعيليانو د عبادتځايونو په توګه کارېدل، د دې مذهبي اقليت پر غړو يې جدي رواني پايلې درلودلې دي.» [۱۱۵]

> يو بل مرکه شوي په دې اړه ويلي دي:
> «دا ډېره ښکاره ده چې طالبانو زمونږ مذهبي آزادي سلب کړې ده. اسماعيليه وګړي د جماعت خونې په نوم عبادتځای لري چې هلته نارينه او ښځينهيوځای عبادت کوي؛ خو دا مهال نشي کولای له دې عبادتځايونو څخه آزادانه استفاده وکړي. ځکه طالبان دا مرکزونه کنټرولوي او وايي چې مونږ نه غواړو ښځې او نران ګډ او په يوځای کې عبادت وکړي.» [۱۱۶]

114 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲ شمېره عمومي تفسي، ٦ بند.
115 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
116 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړی.

په داسې حال کې طالبانو د ۲۰۲۱ کال له سپتامبر څخه په ټول افغانستان له ۲۱۰۰۰ زیاتې مدرسې کې جوړې کړې دي،[۱۱۷] خو د اسماعیلیه مذهب پیروانو ته د دا ډول مرکزونو د جوړولو اجازه نه ورکوي. په دې هکله یو مرکه شوي ویلي دي:

> «هغه مهال چې د کابل ښار اړوند حوزې ته یو شمېر اسماعیلي مشرانو مراجعه وکړه او غوښتنه یې وکړه چې غواړي یوه جماعت خونه جوړه کړي، د حوزې مسئولینو ورته وویل چې لاړ شئ لاسلیکونه راټول کړئ او بیا یې حوزې ته راوړئ، چې مونږ یې تائید کړو. تقریباً ۱۹۰۰ لاسلیکونه له هماغې سیمې راټول شول او حوزې ته وسپارل شول، خو د حوزې مسئولینو و نه منله او و یې ویل چې ستاسو په اړه زمونږ اطلاعات کم ؤ، ستاسو عبادتځای ممبر نه لري او همدا راز ښځې او نر یوځا عبادت کوئ. مونږ د دا ډول کار اجازه تاسو ته نه درکوو.» [۱۱۸]

> یو بل مرکه شوي ویلي دي:
> «زمونږ په کلي کې یوه جماعت خونه ده چې خلک اجازه نه لري د عبادت لپاره ورشي ځکه له دوه کلونو راهیسې، طالبان ترې د میلمستون او د رسمي پروګرامونو جوړولو لپاره ګټه اخلي. مثلا که له کوم ځایه ورته میلمه راشي هلته یې وړي یا د خپلو خبرو او وینا د پروګرامونو لپاره له دې جماعت خونې څخه ګټه اخلي.ځکه خو اسماعیلیان ورڅخه د استفادې اجازه نه لري.» [۱۱۹]

## د اسماعیلیانو د عبادتځایونو غیراسلامي ګڼل

۴ تنو مرکه شویو په خپلو خبرو کې ویلي چې طالبان د اسماعیلیانو مذهبي مراکز او عبادتځایونه د اسلامي مقدسو ځایونو برخه نه بولي. لکه څنګه چې یو تن مرکه شوي ویلي دي:

> «په وروستیو کې په بغلان ولایت کې د طالبانو محکمې په یو قضایي قرار کې ویلي چې د اسماعیلیانو مذهبي ځایونه د اسلامي مقدسو ځایونو برخه نه ګڼل کیږي. سربېره پر دې، یو شمېر سیمه ییزو افراطي کسانو هم بیا بیا په علني ډول ګواښ کړی او ویلي دي چې د اسماعیلیانو د عبادت مرکزونه غیر اسلامي دي؛ ځکه چې ښځې او نران په ګډه یکې عبادت کوي.» [۱۲۰]

> بل مرکه شوي په دې هکله داسې ویلي دي:
> «په بغلان ولایت کې د اسماعیله او اهل سنت مذهبونو د پیروانو تر منځ د یو مسجد د مالکیت پر سر اختلاف رامنځته شو. دا مسجد ۲۰ یا ۲۵ کاله مخکې د اسماعیلیانو له خوا جوړ شوی و او د جمهوریت پر مهال هم د دوی په واک کې و. خو واک ته د طالبانو د بېرته راګرځېدو راهیسې، یو شمېر د اهل سنت پیروانو طالبانو ته شکایت وکړ او ادعا یې وکړه چې اسماعیلیان د مسجد خلک نه دي او دا ځای باید دوی ته وسپارل شي. تېر کال په قوس میاشت کې د طالبانو محکمې د اهل سنت د پیروانو په ګټه

117 . رواداري، «محرومیت او تبعیض: په افغانستان کې تعلیم ته د نجونو او ښځو د لاسرسي وضعیت»، ۲۰۲۴ نوامبر، ۳۵ ص، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/01/RW_AccessToEducation_2024_Dari.pdf

118 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.

119 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۵مه.

120 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.

پرېکړه وکړه. ما خپله دا پرېکړه لیدلې او په هغې کې راغلي چې د اسماعیلیانو عبادتځایونه د مسلمانانو عبادتځایونه نه ګڼل کیږي او مسجد باید اهل سنت ته وسپارل شي. په دې پرېکړه کې یې د اسماعیلیانو جماعت خونې د بتخانو، کلیساوو او غیر اسلامي ځایونو معادل ګڼلي دي.[۱۲۱]

د اسماعیلیانو پر مذهبي مراکزو لګول شوي محدودیتونه په تېرو ځلورو کلونو کې د اقداماتو د یوې ټولګې له لارې پلي شوي دي، لکه د نویو عبادتځایونو د رامنځته کولو مخنیوی، په دې مراکزو کې د ښځو د حضور ممنوعیت او په ځینو مواردو کې د مخکنیو مراکزو معطل کول؛ دا هغه چاره ده چې د بشري حقونو د بین المللي اسنادو په ځانګړي ډول د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق د ۱۸مې مادې د مفادو مطابق د مذهبي آزادۍ نقض ګڼل کیږي.[۱۲۲] څکه چې د اقلیتونو د ښوونیزو مدرسو او مراکزو اغېزناکه ساتنه د دولتونو د قانوني دندو برخه ده او طالبانو په تېرو ځلورو کلونو کې خپله دغه دنده نه ده ترسره کړې.

## د مذهب بدلون ته اړیستل او د حنفي فقهې ښوونه

د مدني او سیاسي حقونو د بین المللي میثاق د ۱۸مې مادې په اړه د بشر حقونو کمېټې د عمومي تفسیر پر نسبت، دولتونه باید د خپلو معتقداتو سره سم د ماشومانو د مذهبي او اخلاقي زده کړو په تامین کې د والدینو حق ته درناوی وکړي. هغه عمومي زده کړې چې د ماشومانو د مور و پلار او قانوني سرپرستانو د خوښې خلاف د یو ځانګړي مذهب یا عقیدې زده کړه پکې ورکول کیږي هم منعه دي.[۱۲۳] سربېره پر دې، دولتونه دنده لري چې د ماشومانو د مور پلار او قانوني سرپرستانو دې آزادۍ ته درناوی وکړي، چې ډاډه شي د اولادونو مذهبي او اخلاقي ښوونه او روزنه یې د خپلو اعتقاداتو سره سمه ترسره کیږي.[۱۲٤]

له بل پلوه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق په صراحت سره ویلي چې هیڅوک باید تر داسې جبر لاندې رانشي چې آزادۍ او د خپل انتخاب له مخې د مذهب او عقیدې درلودلو ته یې زیان ورسیږي.[۱۲۵] د بشر حقونو کمېټه په صراحت سره تاکید کوي چې د مذهب بدلون ته اړیستل په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د مذهبي آزادۍ جدي نقض دی او هیڅ دولت نشي کولای داسې سیاست غوره کړي چې موخه یې د خلکو یا ډلو د مذهب بدلون ته اړیستل وي.[۱۲٦]

له بلې خوا، د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون د ټولو ماشومانو لپاره د فکر، وجدان او مذهب د آزادۍ په تضمین سربېره، د والدینو حق هم په رسمیت پېژني چې د خپلو عقایدو پر بنسټ د ماشومانو روزنه وکړي. همدارنګه په هغو هېوادونو کې چې مذهبي لږکي ژوند کوي، په دغو لږکیو ماشومان حق لري چې د خپلې کړنلارې او مذهب څخه برخمن وي او په آزاده توګه پرې عمل وکړي.[۱۲۷]

121 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
122 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۱۸مه ماده.
123 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۴ بند ۱۸مه ماده.
124 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲ شمېره تفسیر، ۷ بند.
125 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲ بند ۱۸مه ماده.
126 . د بشر حقونو د کمېټې ۲۲مه شمېره عمومي تفسیر، ۵ بند.
127 . مجمع عمومی سازمان ملل متحد، کنوانسیون بین‌المللی حقوق کودک، (۲۰ نوامبر ۱۹۸۹)، ماده ۱۴ و ماده ۳۰.

سره له دې، د دې څېړنې موندنې ښيي چې طالبانو په سازمان شوي او هدفي ډول د اسماعيلي ماشومانو تر منځ د خپلې ايډيالوژۍ دودونې او د حنفي فقهې د اجباري ښوونې اقدام کړی او هم يې د دې مذهبي اقليت غړي اړيستلي چې خپل باورونه پرېږدي او سني مذهب ومني.

د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) هم په خپل يو راپور کې ويلي چې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له ۱۷مې څخه تر د فبرورۍ د ۳مې پورې، د واکمنې اداري ځايي چارواکو، په ځانګړي ډول د دوی د امر بالمعروف اداري په بدخشان ولايت کې لږ تر لږه ۵۰ تنه اسماعيلي نارينه د سني مذهب منلو ته اړ ايستلي دي. د راپور له مخې، هغه کسان چې د مذهب له بدلون څخه يې ډډه کړې، وهل ټکول او د مرګ له ګواښ سره مخ شوي د. [128]

همدا راز، د ښښنې نړيوال سازمان د ۲۰۲۵ کال په کلنی راپور کې ويلي، داسې شواهد شته چې ښيي طالبان د شيعه اسلامي ټولنې غړي د مذهب بدلون او له سني اسلام ځانګې سره د يوځای کېدو لپاره اړباسي. [129]

## الف- اسماعيلي ماشومانو ته د حنفي فقهې اجباري ښوونه

د دې څېړنې ټولو ۲۴ مرکه شويو ډېرى په بدخشان ولايت کې د حنفي فقهې زده کولو ته د اسماعيلي کورنيو د هلکانو ماشومانو د اړيستلو او هڅولو اړوند د طالبانو هدفي او سازمان شويو اقداماتو ته اشاره کړې ده. په دې منځ کې ۱۲ تنو ويلي، داسې کورنۍ پيژني چې دا ډول کار ته اړې شوې دي. ۹ نورو کسانو ويلي چې د خپلوانو ماشومان يې په زوره د طالبانو ديني مدرسو ته وړل شوي دي او همدا راز ۵ نورو کسانو ويلي چې له يو شمېر دغو ماشومانو له کورنيو سره يې مخامخ خبرې کړې دي.

د دې اقداماتو ډېره برخه د سيمه ييزې اداري د مسئولينو او د طالبانو د امربالمعروف اداري له خوا په بدخشان ولايت کې او ډېرى د دروازونو په ولسواليو متمرکزه ده. د مرکه شويو د څرګندونو پر بنسټ، جمعه خان فاتح په پينځو ولسواليو شکي، مايمي، نسي، کوف او خواهان کې ديني مدرسي جوړې کړې دي او هره مدرسه د سرو زرو د کانونو له ګټې څخه په شخصي توګه تمويلوي. د امربالمعروف اداره په شغنان او اشکاشم ولسواليو کې او همدا راز د طالبانو دوو قوماندانانو په وردوج ولسوالۍ کې ديني مدرسې جوړې کړې دي.

په دې اړه، د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي په يو راپور کې ويلي چې د واکمنې اداري چارواکو د بدخشان ولايت په هغو سيمو کې چې د اسماعيليانو د اوسېدو ځايونه دي، څو ديني مدرسې جوړې کړې دي او د اسماعيلي ماشومانو څخه يې غوښتنه کړې چې د سني مذهب پر بنسټ د ديني زده کړو د ترلاسه کولو لپاره په دغو مدرسو کې نوم‌ليکنه وکړي. [130]

مرکه شويو همدا راز ويلي چې طالبانو د دې مدرسو له ظرفيت سره سم، اسماعيلي ماشومان جذب کړي او تدريس ورته کوي، لکه څنګه چې په ځينو ولسواليو کې له هرې اسماعيلي کورنۍ څخه يو ماشوم او په يو شمېر ولسواليو کې ځومره چې کولای شي جذبوي يې.

128 . د ملګرو ملتونو سازمان مرستيال پلاوی، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعيت: نوی ريوټ جنوری- مارچ ۲۰۲۵، ٦ ص. https://unama.unmissions.org/update-human-rights-situation-afghanistan-july-sept-2025

129 . د ښښنې نړيوال سازمان، د بشر حقونو نړيوال وضعيت، ۲۰۲۵ اپريل. /https://www.amnesty.org/en/location/asia-and-the-pacific/south-asia/afghanistan/report-afghanistan

130 هیأت معاونت سازمان ملل متحد، وضعيت حقوق بشر در افغانستان: گزارش تازه جنوری- مارچ ۲۰۲۵، ص ٦. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/dari_-_unama_hrs_update_on_human_rights-.pdf

”

یو مرکه شوي په دې اړه داسې ویلي دي:
«طالبانو د بدخشان ولایت د اسماعیلیه میشتو ولسوالیو په مرکزونو کې دیني مدرسې جوړې کړې دي او کلي یې د ماشومانو د اجباري حاضرولو لپاره ویشلي دي. هغوی اسماعیلي ماشومان دې مدرسو ته وړي او حنفي فقهه ورته تدریسوي. همدا راز، د هر مسجد لپاره یې امام ټاکلی دی او په دې مسجدونو کې یې د حنفي فقهې د تدریس ټولګي جوړ کړي دي. هغه امامان چې دا ټولګي پر مخ وړي، په میاشتني ډول له طالبانو معاش ترلاسه کوي. په دې اړوند، یو طالب په شغنان ولسوالۍ کې په یو صوتي پیغام کې چې د امربالمعروف اداري ته یې لېږلی، ویلي چې اسماعیلیان کافران دي او باید مسلمانان شي. مونږ د مدرسو په رامنځته کولو کې له ستونزې سره مخ یوو، زمونږ ټول توان یوه مدرسه جوړول ؤ. که تاسو همکاري او امکانات برابر کړئ، مونږ کولای شو ډېرې مدرسې جوړې کړو او د دې مذهب ډېری پیروان مسلمانان کړو.» [۱۳۱]

”

بل مرکه شوي ویلي چې د بدخشان ولایت په نسي ولسوالۍ کې هره اسماعیلي کورنۍ مجبوره ده چې خپل یو زوی د طالبانو دیني مدرسې ته ولیږي:
«په هغه مدرسه کې چې جمعه خان فاتح په نسي ولسوالۍ کې رامنځته کړې، له هرې اسماعیلي کورنۍ یې غوښتي چې کم تر کمه خپل یو ماشوم د حنفي فقهې زده کړې ته هلته ور ولیږي.» [۱۳۲]

”

بل مرکه شوي ویلي دي:
«هغوی په پیل کې هڅه کوله چې له ۱۴ کلونو پورته ماشومان دې مدرسو ته بوځي خو وروسته یې پام شو چې دا کار پایله نه لري. اوس یې تصمیم نیولی چې کم عمره ماشومان مدرسو ته بوځي او زده کړه ورکړي او له دې لارې یې مذهب بدل کړي.» [۱۳۳]

”

په کابل ښار کې هم د هغه څه پر بنسټ چې مرکه شویو ویلي دي، اسماعیلي ماشومانو ته د حنفي فقهې د ښوونې لپاره هڅې موجودې دي. په دې اړه یو مرکه شوي داسې ویلي دي:
په کابل کې مولویان د اسماعیلیانو کورونو ته ورغلي او له هغوی یې غوښتي چې خپل ماشومان مسجدونو ته ولیږي چې زده کړه وکړي. د دې کورنیو غړو طالبانو ته وویل چې مونږ اسماعیلیان یوو او زمونږ مذهب توپیر لري؛ خو هغوی هیڅ ځواب ورنکړ، چې تاسو په دې خبرو پسې مه ګرځئ، څه چې مونږ درته وایوو هماغسې وکړئ. اوس زمونږ ماشومان مجبور دي چې مسجدونو ته لاړ شي. زه دوه-درې ماشومان پېژنم چې اته تر نهه کاله عمر لري او په دې مدرسو کې زده کړه ورکول کیږي.» [۱۳۴]

### ۱. تهدید، شکنجه او نغدي جریمه

لکه څنګه چې مخکې وویل شول، طالبان په بدخشان ولایت کې په زور، ګواښ او وېرولو سره تر خپل کنټرول لاندې مدرسو ته د اسماعیلي کورنیو هلکان ماشومان بوتللي او هغوی ته حنفي فقهه تدریسوي. د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، طالبان په هغو مواردو کې چې د هلکانو کورنۍ د اهل سنتو مدرسو ته د خپلو ماشومانو له لېږلو سره موافقه ونه

131 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
132 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱٦مه..
133 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.
134 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر لومړی.

کړي او یا له دې مدرسو څخه یې د هغوی د ویستلو غوښتنه وکړه، تر ۲۰۰۰ افغانیو نغدي جریمه یې پرې لګولې ده. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوي هم په یو راپور کې ویلي چې اسماعیلي کورنۍ چې خپل ماشومان د اهل سنت په مدرسو کې داخل نه کړي له ۲۰ زرو تر ۱۰۰ زرو افغانۍ جریمې سره مخامخیږي. [۱۳۵]

همدا راز، طالبانو په بدخشان کې اسماعیلي کورنیو ته خبرداری ورکړی چې له مدرسو څخه د ماشومانو د تېښتې او یا د درسونو په نیمه کې پرېښودلو په صورت کې به کور او شتمني یې وسوځوي او د کورنیو غړي به یې ووژني. سربېره پر دې، په هغو مواردو کې چې اسماعیلي مشرانو د طالبانو دیني مدرسو ته د خپلو ماشومانو د لېږلو پر وړاندې مقاومت کړی، نیول شوي او شکنجه شوي دي.

یو مرکه شوی تن په دې اړه وایي:
«زه زده کوونکي پېژنم چې طالبانو په زور مدرسې ته وړي دي، خو هغوی وتښتېدل او زما کور ته یې پناه راوړه. دا زده‌کوونکي د اسماعیلیه مذهب او د دولس امامي تشیع پیروان وو. طالبان له تښتېدو وروسته د هغوی مور او پلار سره په اړیکه کې شول او و یې ګواښل چې که ماشومان یې بیا مدرسې ته رانشي، کورونه به یې وسوځوي او ورونه به یې ووژني. هغوی مجبور شول بېرته مدرسې ته لاړ شي. طالبانو له ټولو کورنیو تعهد اخستی چې خپل اولادونه دیني مدرسو ته ولېږي او که کوم ماشوم درس په نیمه کې پرېږدي، وتښتي یا بل ځای ته لاړ شي، کور او شتمني به یې وسوځول شي او ځاروي به یې اسلامي امارت ته وسپارل شي.» [۱۳۶]

بل مرکه شوی په بدخشان ولایت کې د یو اسماعیلي مشر شکنجه کولو ته په اشارې چې د طالبانو مدرسو ته یې د ماشومانو د لېږلو پر وړاندې مقاومت کړی و، داسې ووېل:
«... طالبان په زوره د درواز ولسوالۍ په مرکز کې «الفتح» مدرسې ته له کلیو څخه د اسماعیلیانو اولادونه وړي. د اسماعیلیانو د ځایي مخورو له طالبانو وغوښتل چې تاسو ملا او مولوي وټاکئ چې زمونږ سیمې ته راشي، مونږ یې ټول لګښت هم ورکوو خو خپل اولادونه هغې مدرسې ته نه لیږو. د همدې خبرې له امله، جمعه خان فاتح هغه خپل ځان ته وروغوښت او د مرګ تر حده یې وډباوه او شکنجه یې کړ. حتا غوښتل یې هغه اعدام کړي چې د سیمې اوسیدونکو منځګړتوب وکړ او مانع یې شول.»[۱۳۷]

بل مرکه شوي د اهل سنت مدرسو ته د اسماعیلي ماشومانو په لېږلو کې د زور د کارونې په اړه داسې ویلي دي:
«په بدخشان ولایت کې زمونږ ماشومان مسجد ته وړي او د سني مذهب زده کړه ورکوي. له هر ابزار او طریقې څخه استفده کوي چې مونږ اړباسي د هغوی مدرسو ته خپل زامن ولیږو، حتا زمونږ دروازو ته د طالبانو وسله وال کسان راځي او ماشومان په زوره له ځان سره وړي. البته دا کار د هغوی د سیمیزو مشرانو په هدایت ترسره کیږي.» [۱۳۸]

135 . د ملګرو ملتونو مرستیال پلاوی، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت: نوی رپوټ جولای-سپتامبر۲۰۲۵، ٦ ص. https://unama.unmissions.org/update-human-rights-situation-afghanistan-july-sept-2025
136 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱٦مه.
137 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.
138 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.

همدا راز، طالبانو په بدخشان ولایت کې هغو کورنیو ته چې دیني مدرسو ته یې د خپلو ماشومانو د لېږلو مخه نیوله، تر ۲۰۰ زره افغانیو پورې نغدي جریمه یې ورته ټاکلې ده. په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي:

«زمونږ د کورنۍ د غړو څو تنه یې په زور مدرسې ته یوړل او حنفي فقهه ورزده کوي. د هغوی طریقه لومړی دا وه چې ۱۵، ۱٦ او ۱۷ کلن ماشومان یې دوه-درې کاله مخکې په خپلو مدرسو کې شامل کړل خو و یې نشول کولای د هغوی مذهبي عقاید او باورونه بدل کړي. بالاخره یې بل چل وکړ، دا ځل یې له ۷ کلنو ماشومانو پیل وکړ، ځکه په دې عمر کې د ماشومانو ذهن د سپین کاغذ په څېر وي او هرڅه کولای شي د هغې پر مخ ولیکي. نو د خلکو تر منځ یې وېره خپره کړه او و یې ویل چې که په همدې عمر کې خپل ماشومان د هغوی مدرسو ته و نه لیږي، یو سل او پنځوس تر دوه سوه زره افغانیو به جریمه شي. دا پېښه څو ځل زمونږ په قریه کې پېښه شوې. حتا یو شمېر کورنۍ مجبورې شوې چې خپل کار او ژوند پرېږدي او نورو ولایتونو ته وتښتي، ځکه ماشومان یې ترې په زوره مدرسو ته وړل.»[139]

بل مرکه شوي ویلي دي:

تېره ورځ مې بدخشان سره اړیکه ونیوله، طالبانو زمونږ د یو خپلوان زوی په زوره دیني مدرسې ته وړی دی چې حنفي فقهه ورته تدریس کړي؛ یعنې ښکاره ووایم چې وړی یې دی څو مذهب بدل کړي. زمونږ یو بل خپلوان غوښتل خپل زوی د طالبانو له دیني مدرسې وباسي، خو خبره دې ځای ته ورسېده چې د هماغې مدرسې مسئولینو وویل که غواړئ زوی مو له مدرسې وباسئ، باید سل زره افغانۍ ورکړئ...
طالبان اسماعیلي ماشومان چې ۱۲ کلنۍ ته رسیږي په زوره خپلو دیني مدرسو ته وړي او تربیه کوي یې. زه د بدخشان ولایت په شکي ولسوالۍ کې ۵-٦ کورنۍ پېژنم چې طالبانو یې زامن په زوره وړي دي چې په خپلو دیني مدرسو کې حنفي فقهه ور وښیي. وضعیت ډېر خطرناک دی او کورنۍ له دې پرته بله چاره نه لري.»[140]

## ۲. د حنفي فقهې زده کولو ته هڅونه

د دې څېړنې موندنې ښیي چې طالبانو اسماعیلي ماشومانو او ځوانانو ته د حنفي فقهې د ښوونې لپاره بېلابېل ابزار او طریقې کارولې دي، چې له دې طریقو څخه یوه یې د کورنیو ترغیب دی. په دې اړه له بغلان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي دي:

زه شخصاً د حنفي فقهې په زده کولو د اسماعیلي ماشومانو د اړیستلو شاهد نه وم، خو د اهل سنت مدرسو ته د خپلو ماشومانو د لېږلو لپاره د اسماعیلي کورنیو د هڅولو د تبلیغاتو شاهد وم. لکه د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې یو شمېر اهل سنت روحانیونو د اسماعیلیانو او شیعه ګانو اړوند سیمه کې تبلیغ کاوه او ۱۲ امامي شیعه ګانو او د اسماعیلیه شیعه ګانو دواړو ځوانانو ته یې ویل چې که د ولایت په مرکز کې رامنځته شویو جهادي مدرسو کې حنفي فقهه ولولئ، په راتلونکي کې کولای شئ په دولتي ادارو کې استخدام شئ، قاضیان شئ او یا د ادارو په بېلابېلو برخو کې کار وکړئ. هغوی مثالونه راوړل

139 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.
140 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۳مه.

او ویل یې چې فلانی د لیسانس یا ماسترۍ تحصیلي سند لري او بیکاره دی خو قاریان خپلې دندې لري.» [۱۴۱]

له بدخشان ولایت څخه بل مرکه شوي ویلي دي:
«زمونږ زامن هڅوي چې لاړ شي حنفي مذهب زده کړي. د طالبانو ځواکونه جماعت خونو ته راځي او زمونږ مذهبي ارزښتونو باندې ملنډې وهي او هڅه کوي چې زمونږ زامن د اهل سنت مسجدونو ته لاړ شي او هلته زده کړه وکړل شي.» [۱۴۲]

د اسماعیلي ماشومانو د حنفي فقهې زده کړو ته اړ کول، لکه څنګه چې د دې راپور د مرکه شویو څرګندونو کې روښانه شوي، د هغوی د مذهب او مذهبي باورونو د بدلولو په موخه ترسره شوي دي؛ دغه کړنه د مذهبي آزادۍ او د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون د صراحت له مخې څرګنده سرغړونه بلل کېږي. [۱۴۳]

## ب- د مذهب بدلون ته اسماعیلیانو اړیستل

د دې څېړنې د موندنو ارزونه ښیي چې طالبانو په تېرو څلورو کلونو کې په ځانګړې ډول په بدخشان او بغلان ولایتونو کې په سازمان شوي او هدفي ډول د اسماعیلیانو د مذهب بدلون او د سني مذهب د تحمیل لپاره اقدامات کړي دي. هغوی د دې کار لپاره، د جبر، ګواښ، شکنجې، وېرولو او نورو له تاوتریخوالو ډکو طریقو څخه کار اخستی دی. د دې راپور ټولو مرکه شویو کسانو ویلي چې طالبانو د بېلابېلو طریقو په کارولو سره هڅه کړې چې اسماعیلیان د خپل مذهب بدلولو او د سني مذهب منلو ته اړباسي. د مرکه شویو روایت یواځې د اوربدو پر بنسټ نه بلکې د مشاهدې او له قربانیانو سره د مخامخ اړیکې له مخې دی. لکه څنګه چې ۷ تنو څرګنده کړې چې هغو کسانو سره یې خبرې کړې دي، چې د طالبانو تر فشار لاندې د مذهب بدلولو ته اړیستل شوي دي. ۱۰ تنو نورو ویلي چې یو شمېر دا کسان له نږدې پېژني او له هغوی سره په یو ځای کې ژوند کوي. همدا راز، یو تن ویلي چې د مذهب بدلولو لپاره له ګواښ، وهلو ټکولو او ځورولو وروسته یې خپل کور او د ژوند ځای پرېښی او یو بل کس څرګنده کړې چې طالبانو د ګواښ او د پیسو د وړاندیز له لارې هڅه کړې چې هغه د سني مذهب منلو ته مجبوره کړي.

ترلاسه شوي اطلاعات همدا راز ښیي چې د اسماعیلیه مذهب د پیروانو د مذهب بدلون او د سني مذهب تحمیل لپاره قصدي هڅې په بدخشان ولایت او د دروازونو په ولسوالیو کې متمرکزې دي. د مرکه شویو د روایتونو پر بنسټ دا بهیر په هدفي او سازمان شوي ډول او په لویه کې د جمعه خان فاتح تر هدایت لاندې، چې په دې ولایت کې د طالبانو یو سیمه ییز قومندان دی، پر مخ وړل کیږي. ټولو مرکه شویو په مشخص ډول د بدخشان ولایت وضعیت ته اشاره کړې ده او دا سیمه ییز قوماندان یې د مذهب بدلولو ته د اسماعیلیانو د اړیستلو اصلي لامل یاد کړی دی.

په دې اړه یو مرکه شوي داسې ویلي دي:
«د طالبانو یو سیمه ییز قومندان خپلو وسله والو کسانو سره چې له جمعه خان فاتح سره تړلي دي، د شپې ۱۲ بجې زما کور ته راغلل، زه یې له کوره وویستلم او و یې ویل باید خپل مذهب دې بدل کړې.

141 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
142 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.
143 . میثاق بین‌المللی حقوق مدنی و سیاسی، ماده ۱۸ و کنوانسیون حقوق کودک، ماده ۳۰.

ما ځواب ورکړ چې ټول عمر او له څو نسلونو څخه د اسماعیلیه مذهب پیرو وم اوس که ووژل شم هم له خپل مذهب او باورونو نه ګرځم. وروسته یې د ټوپک په قنداق او کوتک څومره چې یې کولای شول ووهلم، دومره چې ټول بدن مې تور شو. ویل یې ته کافر یې، ستاسو مذهب حق نه دی او باید کلمه ووایئ او مسمانان شئ. هغوی چې قران شریف یې حتا له مخه نشو لوستلی مسلمانان دي، خو زه چې قرآن شریف مې په ترجمې او معنا سره زده دی د هغوی له نظره کافر یم... وضعیت داسې ځای ته ورسېد چې کورنۍ مې وویل بل ځل دې وژني، نو ښه ده چې دا ځای پرېږدم، په همدې خاطر مې سیمه.» [144]

”

بل مرکه شوي ویلي چې د هغو کسانو اړوندو معلوماتو او د هغوی شهرت ته لاسرسی لري چې خپل مذهب یې بدل کړی دی:

«پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو راهیسې له ۳۰۰ زیاتو اسماعیلیانو د بدخشان ولایت د دروازونو له ولسوالیو څخه تر شغنان او اشکاشم، او له واخان تر وردوج ولسوالۍ د فشار، تهدید، اجبار یا د طالبانو د روایت تر اغېز لاندې خپل مذهب بدل کړی دی، زه د دې کسانو نومونه او د ټولو مشخصات لرم چې له کومو ولسوالیو او له هرې ولسوالۍ څخه څو تنه دي... البته طالبان په ښکاره د مذهب بدلولو ته اړیستل نه مني، لکه څنګه چې جمعه خان فاتح په یوه مرکه کې ویلي دي چې مونږ هیڅ اسماعیلیه په زوره حنفي مذهب ته نه دی دعوت کړی، هغوی خپله حقیقت موندلی او مسلمانان شوي دي. خو له مرکې وروسته له وسلې سره د هغو اسماعیلیانو کورونو ته ورغی چې د مذهب پرېښودو ته اړیستل شوي ؤ او هغوی یې تهدید کړل چې که دا خبرې تائید نکړئ، و به وژل شئ، پر همدې دلیل دا کسان اړ شول ووایي چې هیچا ورباندې فشار نه دی وارد کړی او خپله یې دا تصمیم نیولی دی. اوس بنسټیز پوښتنه دا ده چې څنګه هغو اسماعیلیانو د جمعه خان فاتح په وینا ناڅاپه حقیقت وموند؟ ... طالبان نه وایي چې اسماعیلیان باید حنفي مذهب ته وګرځي بلکې وایي دا چې اسماعیلیان کافران دي باید کلمه ووایي او مسلمانان شي.» [145]

”

یو بل مرکه شوي د خپلې تجربې په اړه ویلي دي:

«زمونږ له ګاونډیو ولسوالیو او سیمو څخه یې یو شمېر خلک اړیستل چې خپل مذهب بدل کړي، حتا ډېر ځل یې ما نه په ګواښ او د پیسو په وړاندیز سره غوښتی چې خپل مذهب بدل کړم. که وضعیت همداسې دوام پیدا کړي او بهرني بنسټونه زمونږ اړوند پاملرنه ونکړي، ممکن تر څو راتلونکو کلونو پورې مونږ ټول اړباسي چې خپل مذهب بدل کړو.» [146]

”

بل مرکه شوي په همدې اړه ویلي دي:

«دا درواغ دي چې جمعه خان فاتح د بدخشان په سیمه ییز تلویزیون کې وویل چې اسماعیلیانو په زور نه بلکې په خپلې پرېکړې او ارادې مذهب بدل کړی دی. دا ټول روایت جوړونه ده، هغوی په زور او شکنجه اسماعیلیان اړیستلي چې مذهب بدل کړي. له دې کسانو څخه ځیني یې ویره لري چې څه ووایي... هغه کسان چې مدرسې ته یې ورې دي له شک پرته چې د هغوی عقاید بدلوي، د هغو کسانو

144 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۶مه..

145 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

146 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۴مه.

په څېر چې په دیوبند او نورو ځایونو کې زده کړې ورکړل شوې دي.» [147]

له هغه څه سره سم چې په دې څېړنه کې ویل شوي دي، طالبانو د اسماعیلیانو د مذهب بدلولو لپاره بېلابېلې طریقې کارولې دي:
«یو اسماعیلي کس په یوه ترافیکي پېښه کې یو بل تن وژلی و. کله چې یې دوسیه محکمې ته ورسېده، طالبانو هغه ته ویلي ؤ، چې که خپل مذهب پرېږدي هیڅ ستونزه نشته او تا ته به برائت درکړو؛ خو که دا کار ونکړې سخت مجازات کېږي، ځکه تا یو مسلمان وژلی دی او د دې او د دیه چې یو مسلمان د یو کافر له خوا ووژل شي، ډېر دروند دی. وروسته دا کس له زندانه خوشې شو، البته دا هغه څه دي چې خلک یې وایي، خو زه کره معلومات لرم چې یو ملا زندان ته راغی او کلمه یې ورباندې تېره کړه او یو جلد قران شریف یې هم په تحفه کې ورکړ. څه موده چې هغه په زندان کې و، اړیستل شوی دی چې د حنفي مذهب په طریقه اودس وکړي او پینځه وخته لمونځ وکړي.» [148]

بل مرکه شوي ویلي دي چې:
«د بغلان ولایت په تاله و برفک ولسوالۍ کې سیمه ییزو طالبانو د اسماعیلیه مذهب یو پیرو چې شپني یې کوله د مذهب بدلون ته یې اړیست. د «احسن المدارس» مدرسې خلکو ته د ګډون بلنلیک لېږلی چې په سرلیک یې لیکي ؤ «د نور پر لور». هغه شپون یې یو مسجد ته بوتلو او په یو محفل کې یې په غاړه کې ګلان ور واچول او بیا یې ورباندې کلمه وویله. وروسته یې دا کس کلي په کلي وګرځاوه او خلکو ته یې وښود او ویل یې چې تازه مسلمان شوی دی. دا کار د اسماعیلیه مذهب پیروانو ته ډېر دروند تمام شو.» [149]

## د مذهب د اجباري بدلون او د طالبانو په دیني مدرسو کې اسماعیلي ماشومانو ته د ښوونې پایلې

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ او هغه څه چې د مرکه شویو له روایتونو څخه ترلاسه شوي دي، طالبان په ځانګړې ډول په بدخشان ولایت کې په هدفي او سیستماتیک ډول اسماعیلي ماشومانو ته د سني مذهب د فقهې د ښوونې او په جبر د دې مذهبي اقلیت د غړو د مذهب بدلون ته د اړیستولو هڅې کوي. د داډول وضعیت دوام نه یواځې د اسماعیلیانو د مذهبي هویت په کمزوري کېدو او ځپل کېدو تمامیږي، بلکې د دیني بنسټپالنې او د پیاوړتیا او په ټولنه کې د فرهنګي تنوع د له منځه تلو زمینه برابروي.

له بل پیلوه، د مذهب بدلون ته د خلکو اړیستل د وګړو د بشري حقونو او انساني کرامت د نقض له خورا جدي مصداقونو څخه ګڼل کیږي او نورو محدودیتونو او د تبعیض بېلابېلو بڼو ته په پام سره چې د دې راپور تېرو برخو کې مطرح شول، د مذهب بدلولو او سني مذهب منلو ته د اسماعیلانو اړیستل، د دې مذهبي اقلیت پر ضد د طالبانو د سازمان شوي برید یوه برخه ده چې ممکن د مذهبي ځورونې او د بشریت ضد جنایت ښکاره مصداق وګڼل شي. [150]

147 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.
148 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
149 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
150 . د روم اساسنامه، بین المللي جزایي محکمه، (۱۹۹۸ د جولای ۱۷مه)، ۷مه (۱) ماده (ح) او ۷مه (۲) ماده (ز)، ۸ بند.

مرکه شویو د طالبانو د دې اقداماتو د پایلو اړوند جدي اندېښنه ښودلې ده او تاکید یې کړی چې پر اسماعیلي ماشومانو د حنفي فقهې په زوره زده کړه او د مذهب بدلون ته د دې ټولنې د غړو د اړیستلو لپاره د طالبانو د پلان شویو هڅو دوام به د دې مذهبي هویت د ځپل کېدو او حتا له منځه تللو لامل شي. یو مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:

«له درې سوو زیات اسماعیلي ماشومان د طالبانو په دیني مدرسو کې تر اجباري زده کړو لاندې دي. دا درې سوه ماشومان لس کاله وروسته کله چې د طالبانو له دیني مدرسو څخه فارغ شي هر یو به په یو بشپړ افراطي ځواک بدل شوی وي، حتا د ملاعمر له زوی او هر بل طالب څخه لا بد او لا خطرناک. دا چې طالبانو له یوې خوا د اسماعیلیانو د مذهبي مناسکو ترسره کول محدود کړي او له بل پلوه یې د دې مذهبي اقلیت ماشومان د حنفي فقهې د ښوونې لپاره هدف ګرځولي دي، په ستراتیژیک او سازمان شوي ډول په اسماعیلیه ټولنه کې د فرهنګي او ټولنیز وضعیت د بدلولو په هڅه کې دي.» [151]

سربېره پر دې، بل مرکه شوي ویلي دي چې:
کله چې اسماعیلي ماشومانو ته په ښوونځیو او مدرسو کې داسې دیني تعلیم ورکول کیږي چې له خپل مذهب سره یې توپیرلري، هغوی له خپل فرهنګ او مذهبي هویت څخه لرې کیږي او ممکن په راتلونکي کې ډېر افراطي وروزل شي.» [152]

همدا راز یو بل مرکه شوي ویلي دي:
«په بدخشان ولایت کې زمونږ یو تن خپلوان د دندې د وړاندیز په مقابل کې طالبانو سره یوځای شو او مذهب یې بدل کړ اوس هغه او چلند او کورنۍ اړیکې یې داسې بدلې شوې دي چې فکر نه کوې هماغه پخوانی انسان دی. هغه حتا خپلې ښځې ته اجازه نه ورکوي د ورور کور ته لاړه شي او وایي دا چې مونږ اسماعیلیه مذهب پرېښی دی اوس یې ورور نامحرم دی. حتا کله چې یې پلار مړ شو وصیت یې دا و چې د جنازې مراسم یې د اسماعیلیه مذهب د دود پر بنسټ ترسره شي خو دې کس و نه منله او په زور، د خپلې کورنۍ د غړو د غوښتنې پر خلاف یې خپل پلار د حنفي فقهې په طریقه خاورو ته وسپاره او حتا اسماعیلیانو ته یې اجازه ورنکړه چې د جنازې په لومړي صف کې ودریږي. یعنې کله چې دا کسان خپل مذهب بدلوي باید د اسماعیلیه ټولنې له ټولو غړو سره دښمني اعلان کړي او دا د مذهب د بدلون اصلي شرط دی.» [153]

151 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
152 . رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
153 . رواداري، ۲۱مه شمېره مرکه کوونکی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۶مه.

## تهدید، وېره او امنیتي اندېښنې

۲۴ تنو مرکه شویو ویلي چې اسماعیلیان د خپل مذهبي هویت له امله تل د ګواښ، وېرې او اندېښنو سره مخامخ دي. په دې کې، ٦ تنو یې ویلي چې شخصاً یې د ګواښ تجربه درلودلې او همدا راز ۱۳ تنو نورو د نورو کسانو پر وړاندې د ګواښ مواردو ته اشاره کړې ده.


یو مرکه شوي ویلي دي:
«زه د اسماعیلیانو د وضعیت اړوند د خبرونو پوښښ کوم. پر همدې دلیل څو ځل راباندې وسله وال برید وشو او یو ځل تېښتي شوم. وروستی ځل کله چې خپل ولایت ته تللی وم، څو تنو مې پر کور وسله وال برید وکړ، هغوی زما د وژلو قصد درلود خو زه په تېښته بریالی شوم.» [154]

بل مرکه شوي، چې د طالبانو د یو سیمه ییز قومندان له خوا ګواښل شوی او وهل شوی و، ویلي دي:
«دوه کاله مخکې جمعه خان فاتح زما کور ته کسان راولېږل او ما ته یې وویل چې ته کافر یې او باید مذهب دې بدل کړې او که دا کار ونکړې تا وژنو. له همدې امله ما دنده، کور او د ژوند سیمه پرېښوده او یو بل ځای ته وتښتېدم. د هغه کسانو یو بل اسماعیلي چې د یوې موسسې کارمند و ډېر وهلی و، غوښتل یې هغه ووژني خو وښتېد. له یو بل کس سره مې څو ورځې مخکې خبرې وکړې هغه هم د همدې ګواښ له امله سیمه پرېښې ده.» [155]

بل مرکه شوي کس هغو امنیتي اندېښنو ته په اشارې چې اسماعیلیان یې لري، ویلي دي:
«د اسماعیلیه ټولنې تر منځ یوه سراسري او ټولیزه امنیتي اندېښنه موجوده ده، په همدې دلیل د دې خلکو د پام وړ خلکو په تېرو څلورو کلونو کې افغانستان پرېښې دی او نورو بېلابېلو هیوادونو ته تښتیدلي دي.» [156]

154 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.
155 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱٦مه.
156 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.

# مشکوکې او له
# محاکمې پرته وژنې



د دې څېړنې ۲۳ تنو مرکه شویو څرګنده کړې چې د اسماعیلیه ټولنې داسې کسان پېژني او یا یې په اړه اطلاعات لري چې په تېرو څلورو کلونو کې په مشکوک ډول او له محاکمې پرته وژل شوي دي. د دې څرګندونو ارزونه ښيي چې مرکه شویو کسانو د دې مذهبي اقلیت د غړو اړوند کم تر کمه ۴ مشخصو مواردو ته اشاره کړې ده.

په دې اړوند، له مرکه شویو کسانو څخه یو یې داسې ویلي دي:
«د طالبانو یو سیمه ییز قوماندان چې اوس د یو ولایت والي دی، په بدخشان ولایت کې د اغاخان له قنسول څخه چې د مذهبي دندو او دستورالعملونو پر بنسټ یې فعالیت کاوه، غوښتی ؤ، چې خپل مذهبي فعالیتونه کم کړي. هغه دا کس د یو اسماعیلي مشر د جنازې په مراسمو کې ګواښلی و. کله چې هغه د طالبانو په دې امر عمل ونکړ، یاد قوماندان یوه شپه د هغه کور ته څلور تنه ور ولېږل او هغه یې ووژه. په یوه بله پېښه کې یو فعال اسماعیلي محصل چې له هیواده بهر یې د مدني ټولنې له بنسټونو او شبکو سره اړیکه او همکاري درلوده د خپل خوب په ځای کې د بدخشان ولایت په مرکز کې ووژل شو.» [۱۵۷]

یو بل مرکه شوي د دې قنسول د وژنې په اړه ویلي دي:
«ما شخصاً د دې کس له نږدې سرچینو سره خبرې کړې دي. هغه او کورنۍ یې د خپل مذهب او خلکو د دفاع له امله د طالبانو له خوا ګواښل شوي ؤ. هغه ته د نږدې کسانو په باور، طالبانو هغه ووژه خو چا له وېرې او امنیتي اندېښنو څخه څه نشوای ویلای. د هغه خپلوان ښه پوهېږي چې له دې پېښې مخکې یې په تېرو ورځو کې له چا سره کتلي، چا سره یې خبرې کړې وې او د چا له خوا ګواښل شوی و. حتا یو شمېر کسانو هغه ته خبرداری هم ورکړی و چې سر یې په خطر کې دی.» [۱۵۸]

بل مرکه شوي کس هم چې د دې قنسول نږدې کسانو سره یې لیدلي داسې ویلي دي:
«... هغه ته نږدې سرچینو مونږ ته وویل چې طالبانو ډېر ځل ورته ویلي چې باید جماعت خونې ته لاړ نشي او د هغوی جماعت خونه باید په مسجد بدله شي او ملا امام ولري او باید لمونځ هم پینځه وخته ادا شي. طالبانو ګواښ وکړ چې مونږ خپل پروګرام پلی کوو او شاید ته نه اوسې. کله چې د آغاخان بنسټ له دې وضعیت څخه خبر شو ترې و یې غوښتل چې کابل ته لاړ شي او هغوی به له هیواده د وتلو زمینه ورته برابره کړي. د دې کس خپلوانو مونږ ته وویل چې د سیمې ټولو خلکو ترې وغوښتي ؤ چې باید لاړ شي کنه و به وژل شي، خو هغه و نه منله او بالاخره ووژل شو.» [۱۵۹]

رواداري مستندو اطلاعاتو ته لاسرسی موندلی چې ښيي دا سړی د خپلو مذهبي فعالیتونو، لکه په جماعت خونو کې د اسماعیلي ښځو له خوا پر لمونځ ادا کولو باندې د اصرار له امله په بدخشان ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف اداري له خوا د درې ورځو لپاره نیول شوی و.

همدا راز، یو بل مرکه شوي په بغلان ولایت کې د یو اسماعیلي مشر د وژنې په اړه ویلي دي:
«د بغلان ولایت په تاله و برفک ولسوالۍ کې یو تن اسماعیلي مشر د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل

157 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.
158 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱ نېټه.
159 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.


شو. د سیمې خلک پر دې باور دي چې دا وژنه مذهبي انګېزه لري خو د امنيتي اندېښنو له امله يې په اړه ښکاره خبرې نشي کولای.» [160]

يو بل مرکه شوي ويلي دي:
«يو اسماعيلي کس چې له کابل څخه د بغلان ولایت تاله و برفک ولسوالۍ ته تللی و، د اشرف قريې په کلي کې د طالبانو د يو سيمه ييز قوماندان له خوا له موټر څخه ښکته کړای شو او ووژل شو. د طالبانو په لومړۍ دوره کې هم هغوی د همدې کس يو وراره او يو بل اسماعيلی کس تر شکنجې لاندې وژلي ؤ. هغه وخت طالبانو ۸۰ تنه اسماعيليان نيولي او ربړولي ؤ چې د هغوی له منځه دا دوه تنه ووژل شول. د دې سيمه يز قوماندان پلار د طالبانو د حکومت په لومړۍ دوره کې د دې ډلې غړی و چې په کابل کې ووژل شو. د هغوی کورنۍ فکر کوي چې پلار يې د دې اسماعيلي کس له خوا وژل شوی و او اوس هغوی خپل غچ واخيست. همدا راز يو بل اسماعيلي چې د سيمې په بازار کې يې په طالبانو پورې تړلي يو کس سره په مذهبي بحث کې لفظي شخړه کړې وه، د هماغې ورځې په شپه د کور مخې ته ووژل شو.» [161]

يو بل مرکه شوي په بدخشان ولايت کې د يوې جماعت خونې د يو ساتونکي د وژنې په هکله ويلي دي:
«په زيباک ولسوالۍ کې د يوې جماعت خونې ساتونکی په مشکوک ډول ووژل شو. سهار کله چې خلک د زيباک ولسوالۍ مرکزي جماعت خونې ته ورغلل و يې ليدل چې د دې جماعت خونې ساتونکی زندۍ شوی او اوژل شوی دی. هغه هيڅا سره دښمني نه درلوده خو هيڅ معلومه نشوه چې دا کارچا کړی دی. طالبانو د سيمې يو شمېر خلک د څېړنو لپاره بوتلل چې ګوندې تاسو مخکې له دې کس سره اختلافات درلودل او د دې وژنې عاملان ياست، خو اصلي عامل معلوم نشو او د دې کس کورنۍ هم تر اوسه څه نه دي ويلي.» [162]

160 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
161 . رواداري، ۱۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۰مه.
162 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۸مه.

# اسماعيلي ښځو سره د جنسيت او مذهب له مخې تبعيض



که څه هم له ټولو قومي او مذهبي ډلو څخه د افغانستان ښځې یواځې د جنسیت له امله د طالبانو له تبعیضه ډکو او سختو سیاستونو موخه ګرځېدلي او په دې ترتیب له خپلو انساني حقونو او آزادیو، لکه د تعلیم، کار او آزاد تګ راتګ له حقونو څخه محرومې شوې دي؛ د دې څېړنې موندنو ښودلې ده د اسماعیلیه مذهبي اقلیت اړوندې ښځې د غبرګ او لا پیچلي تبعیض سره مخامخ شوې دي. دې ښځو د خپل جنسیتي هویت له امله تبعیض سره د مخامخېدو تر څنګ، د خپل مذهبي او قومي هویت له امله هم د محرومیت خورا پیچلې بڼې او د بشر حقونو نقض زغملی دی.

سره له دې، د دې څېړنې ۱۸ تنو مرکه شویو ویلي چې اسماعیلي ښځې په تېرو څلورو کلونو کې، د افغانستان د نورو ښځو په پرتله، له دوه چنده تبعیض او محدودیتونو سره مخامخې دي.

مذهبي زده کړو ته د لاسرسي محدودیتونه، د مذهبي مناسکو د آزادانه ترسره کولو ممانعت، د پوښاک د ډول له امله ځورول او د اسماعیلي ټولنې له فرهنګي ارزښتونو او دودونو سره په ټکر کې د محدودیتونو وضعه کول، هغه موارد دي چې مرکه شویو ورته اشاره کړې ده. په دې منځ کې یو شمېر مرکه شویو زیاته کړې چې دې محدودیتونو، په ځانګړې ډول د تعلیم، کار او آزادانه تګ راتګ د حقونو په برخه کې، په ورته ډول او په پراخه توګه د افغانستان پر ټولو ښځو له قومي او مذهبي هویت پرته اغېز ښندلی دی.

د اسماعیلیه مذهب د احکامو او ښوونو پر بنسټ، ښځې او نران په هغو برخو کې لکه تصمیم نیونه او ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ګډون او په شخصیه احوالو کې، په ځانګړې ډول د میراث او واده د حق په برخه کې سره برابر دي.[163] د همدې له مخې، له اسلام څخه د طالبانو سخت او متفاوت تعبیر ته په پام سره اسماعیلي ښځې په یادو حوزو کې او خپلو مخکنیو آزادیو ته په کتو، لا ډېر تبعیض تجربه کوي.

> په دې اړه یو مرکه شوي ویلي دي:
> «مخکې اسماعیلي ښځو او نارینو په ګډه د کرنې او زراعت په برخو کې کار کاوه. مثلاً که په یو کور کې به سړی د کرنې په کار بوخت شو ښځې یې څرځای ته څاروي وړل، خو اوس ځایي چارواکو دا فضا سخته محدوده کړې او ښځو ته له کوره د وتلو اجازه نه ورکوي. همداراز، اسماعیلیه ښځو د خپل پوښاک د ډول په انتخاب کې ازادي درلوده خو اوس باید چادري واغوندي او د طالبانو د خوښې پښاک ولري. د سیمې یو شمېر نجونو راته وویل چې یوه ورځ د امربالمعروف مامورینو د بدخشان په فیض آباد ښار کې حتا زمونږ ټیکري او لمنې پورته کړې چې وګوري پتلون خو مو نه دی اغوستی.»[164]

> بل مرکه شوي ویلي دي:
> «د څو قضیو په اړه اطلاع لرم چې طالبان په بدخشان ولایت کې کلیو ته ورغلي او ښځې یې په پټیو کې د خپلو مېړونو سره د مرستې پر مهال وهلې دي. طالبانو دې ښځو ته ویل چې ولې چادري نه اغوندي په داسې حال کې چې په هغې سیمه کې چادري رواج نه دی او ډېرى ښځې یې حتا پیژني نه.»[165]

163 . د آغاخان د پراختیا شبکه، KDN، «جنسیتي برابري»، https://www.akdn.org/our-work/gender-equality

164 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

165 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۲۰مه.

یو مرکه شوي د طالبانو له خوا له ځورولو وروسته د یوې اسماعیلي نجلۍ د ځانوژنې په هکله داسې ویلي دي:

«مونږ ډېره سختي نه کوو او اسماعیلي ښځې د خپل پوښاک د ډول اړوند آزادي لري... په ۱۴۰۳ کال (۲۰۲۴) کې یوې اسماعیلي نجلۍ په کابل کې ځانوژنه وکړه. طالبانو دا نجلۍ په تایمني سیمه کې د پوښاک د ډول له امله په عام محضر کې په دُرو ووهله او وروسته یې ځان سره امربالمعروف ادارې ته بوتله. کله چې خوشې شوه او کور ته ستنه شوه، یوه اونۍ وروسته یې ځانوژنه وکړه او دا کار داسې بې غږ و غوږه ترسره شو چې حتا غیراسماعیلي ګاونډیان یې هم له دې پېښې خبر نه شول.» [166]

بل مرکه شوي د اسماعیلي ښځو قومي هویت ته په اشارې ویلي دي:

«اسماعیلي ښځې په ځانګړي ډول له هزاره قومي هویت سره لا ډېرې او سختې د تبعیض له خطر سره مخامخې دي. یو ځل د مذهبي هویت له امله او بیا د قومي هویت له امله... د اسماعیلیانو د مذهبي احکامو پر بنسټ، ښځې له نارینو سره یوځای او له هیڅ محدودیت پرته کولای شي په عبادتځایونو کې حضور ولري او تر یو چت لاندې لمونځ وکړي. خو دا مهال طابان اسماعیلي ښځو ته په عبادتځایونو کې د حضور اجازه نه ورکوي.» [167]

بل مرکه شوي مذهبي ښوونیزو مرکزونو ته د لاسرسي د نشتوالي په اړه ویلي دي:

د اسماعیلیانو مذهبي تعلیمات معمولاً په جماعت خونو او «بیت العلمونو» کې ترسره کیږي خو د هغو بدلونونو له امله چې په ۲۰۲۱ کال کې راغلي دي، نجونې که ورې دي که غټې دې مرکزونو ته له لاسرسي محرومې شوي دي. د بېلګې په توګه زما کوچنۍ خور ښوونځي او مذهبي زده کړو څخه په یوځای محرومه شوې ده په داسې حال کې چې د طالبانو مدرسې دا ډول نه دي او ښځې کولای شي په بېلابېلو عمرونو کې تر لوړو کچو درس ولولي.» [168]

په همدې اړه یو بل مرکه شوي ویلي دي:

«زمونږ په قریه کې د سیمې طالبان ډېره سختي کوي. په همدې دلیل ښځې له خپلو ټولو حقونو محرومې شوې دي، حتا زمونږ نجونو ته له لومړي ټولګي څخه ښوونځي ته د تلو اجازه نه ورکوي. له هغې ورځې چې دوی واک ته رسیدلي دي، زمونږ لومړنی ښوونځی تړل شوی دی.» [169]

166 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.
167 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
168 . رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه.
169 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۵مه.

بل مرکه شوي ویلي دي:

« له عمومي نظره د اسماعیلي ښځو وضعیت د افغانستان له نورو ښځو سره توپیر نه لري؛ خو هغه ستونزه چې زمونږ ځواني نجونې یې لري دا ده چې کله ۱۲ یا ۱۳ کلنۍ ته رسیږي او نوره نشي کولای ښوونځي ته لاړه شي، نشي کولای خپلو مذهبي مدرسو او تعلیم ته هم لاسرسی ولري. په داسې حال کې چې دا محدودیت د نورو مذهبي ډلو د نجونو لپاره نشته؛ یعنې کله چې هغوی ښوونځي ته له تګ محرومیږي، کولای شي دیني مدرسو ته لاړې شي او خپلو مذهبي تعلیماتو ته ادامه ورکړي. که څه هم بیت العلمونه (د اسماعیلیانو ښوونیز مراکز) فعال دي خو زمونږ نجونې د ورتلو اجازه نه لري او دا موضوع ممکن په راتلونکي کې د اسماعیلي ښځو د مذهبي باورونو د کمزورۍ کېدو سبب شي.»[۱۷۰]

170 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه.

# اجباري بې ځایه کول او د اسماعیلیانو د ملکیتونو غصب



د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق د ژوند د مناسبې کچې او کور درلودلو حق د ټولو وګړو لپاره په رسمیت پېژندلی او تضمین کړی دی. [۱۷۱] سره له دې، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو د عمومي تفسیر له مخې د خسارې له مناسب جبران او له قانوني پروسې پرته د خلکو هر ډول تخلیه د بشر حقونو ښکاره نقض ګڼل کیږي. د دې تفسیر پر بنسټ، اجباري بې ځایه کول هغه موارد هم رانغاړي چې خلک د فشار، ګواښ او له زغمه وتلو شرایطو له امله د کورونو پرېښودو ته اړ شي. [۱۷۲]

همدا راز، د مدني او سیاسي حقونو د بین المللي میثاق له مخې، په دې میثاق کې راغلیو حقونو څخه په برخمنېدو کې د مذهب پر بنسټ هر ډول تبعیض منعه دی او ټول وګړي باید په برابر ډول له قانوني ملاتړونو برخمن شي. پر همدې بنسټ، اجباري بې ځایه کېدل او د مذهبي اقلیتونو د ملکیتونو غصب د تبعیض مصداق او د بشر حقونو د بنسټیز اصولو نقض ګڼل کیږي. [۱۷۳]

د دې څېړنې د معلوماتو ارزونه ښیي چې یو شمېر اسماعیلي شیعه ګان په تېرو څلورو کلونو کې، په ځانګړي ډول په بدخشان او بغلان ولایتونو کې د فشارونو، ګواښ او د ناامنۍ له وېرې بې ځایه شوي دي. همدا رزا، په دې موده کې په یادو ولایتونو کې د دوی ملکیتونه په خپلسري ډول او له قانوني پروسو پرته غصب شوي دی چې په راتلونکو کرښو کې په تفصیل سره ارزول کیږي.

## ۱. اجباري بې ځایه کېدل

۱۵ تنو مرکه شویو ویلي دي چې په تېرو څلورو کلونو کې یو شمېر اسماعیلي کورنیو د تبعیض، ګواښ، تاوتریخوالي او د ناامنۍ د احساس او د ځورول کېدو له وېرې خپل کورونه او د ژوند سیمه پرېښې ده. په دوی کې ۷ تنو مرکه شویو ویلي چې شخصاً د تبعیض، ځورونې، د مذهب بدلولو ته اړیستلو او د حنفي فقهې په زوره د ښوونې له امله یې خپل د ژوند ځای پرېښی دی. لکه څنګه چې یو مرکه شوي ویلي دي:

> «ډېر شمېر خلک د تبعیض، د ملکیت د غصب او فزیکي ګواښ له امله اړ شوي وطن او خپل د ژوند ځای پرېږدي. د بغلان ولایت په تاله و برفک ولسوالۍ کې مخکې ۴۰۰۰ شاوخوا اسماعیلي کورنۍ اوسېدې خو اوس ۱۰۰۰ کورنۍ هم نه دي پاتې. هر څوک چې توانېدلی سیمه یې پرېښې ده، ځکه خپل راتلونکی نهویني او دا بهیر همداسې روان دی.» [۱۷٤]

> بل مرکه شوي ویلي دي:
> «کله چې وینم هلکان له بدخشان ولایت نه کابل ته راغلي او له خپلوانو سره یوځای ژوند کوي پوښتم یې چې ولې دلته راغلي یاست، وایي د ځایي طالبانو له وېرې راتښتیدلي یوو، له دې وېرې چې هسې نه سبا طالبان شي یا د خپل مذهب پرېښودو ته اړیستل شو. حتی ځینې کابل مېشتو کورنیو هم خپل یو

171 . د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو میثاق، ۱۱مه ماده.

172 . د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمېټه، ۷ شمېره عمومي تفسیر، د مناسب کور درلودلو حق: اجباري تخلیه، (۱۹۹۷)، ۳ او ۵ بندونه.

173 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۲٦مه ماده..

174 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۳مه..

شمېر د کورنۍ غړي پاکستان ته لېږلي دي چې هلته په مصونیت کې ژوند وکړي.» [۱۷۵]

”

یو بل مرکه شوي ویلي دي چې نامعلومو وسله والو یو شمېر اسماعیلیان ګواښلي دي چې باید خپل کور او ځمکه پرېږدي:

«په تاله و برفک ولسوالۍ کې که څه هم ډېری خلکو له وېرې سیمه پرېښې ده؛ خو داسې موارد هم شته چې د شپې وسله وال کسان د اسماعیلیانو کورونو ته ورغلي او هغوی یې ګواښلي چې باید خپل کورونه او ځمکې پرېږدي. د بېلګې په توګه د اسماعیلیه مذهب یو پیرو چې څو ځل ګواښل شوی و څو خپله سیمه، کور او ځمکه پرېږدي، په ښکاره یې ویلي ؤ چې تر هیڅ شرایطو لاندې حاضر نه دی خپل کور او ځمکه پرېږدي. بالاخره دا کس د شپې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو، د سیمې خلکو د شکایت لپاره د طالبانو ادارو ته مراجعه وکړه خو هیڅ رسیدګي ورته ونشوه.» [۱۷۶]

”

یو بل مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:

«د بغلان ولایت په تاله و برفک ولسوالۍ کې سیمه ییزو طالبانو د اسماعیلیه ټولنې دوو غړو ته اخطار ورکړی و چې باید خپله ځمکه او کور پرېږدي، خو کله چې هغوی دا غوښتنه و نه منله او مقاومت یې وښود، په مشکوک ډول ووژل شول. همداراز، د همدې ولایت یو بل اسماعیلي کس چې تللی و څو خپله ځمکه له مخکني اجاره میشتي کس څخه واخلي او بل کس ته یې ورکړي، هم ووژل شو. طالبانو تر اوسه هیڅ ډول څېړنه نه ده کړې او نه یې د دې وژنو په تړاو څوک نیولی دی. سربېره پر دې، څو نور کسان د نامعلومو وسله والو د ډزو په پایله کې ټپیان شول اوعاملان له سیمې وتښتېدل.» [۱۷۷]

## ۲. د اسماعیلیانو اړوند د ملکیتونو غصب

د دې څېړنې له ټولو مرکه شویو څخه ۱۲ تنو یې راپور ورکړی چې د اسماعیلیانو اړوند ملکیتونه په تېرو څلورو کلونو کې په بدخشان او بغلان ولایتونو کې له هر ډول رسمي جواز او قانوني پروسې پرته غصب شوي دي.

”

یو مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:

«د ارغنج خواه امنیه قوماندان د شپې د اسماعیلیانو کورونو ته ورځي او وایي ستاسو ځمکه مثلاً په ۲۰ میلیونه افغانۍ اخلم او سبا درنه ویډیو اخلم، باید په خپله ژبه ووایې چې زه په رضا خپله ځمکه فلانې باندې او په دې قیمت پلورم. که دا کار ونکړې بله شپه به دې ووژنم. هغه اړ شو کې و یې منې. دې کسانو هیڅکله نه غوښتل خپلې ځمکې وپلوري. کله چې یې ما سره خبرې کولې په ټلفون کې په ژړا شو او ویل یې نشم کولای د خپلو کورونو او ځمکو ساتنه وکړم، بله لاره نه لرم، یا به د ژوندي پاتې کېدلو لپاره دا کار کوو یا به په مخالفت کوو او وژل کیږو به.» [۱۷۸]

175 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۳مه..
176 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۴مه..
177 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۳مه.
178 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۱مه.

بل مرکه شوي د اسماعیلیانو د ځمکو په غصب کې مذهبي انګېزو ته په شارې ویلي دي:

«د اشکاشم ولسوالۍ په مرکز کې د ډېر شمېر اسماعیلیانودوکانونه په بېلابېلو پلمو غصب شوي دي. په داسې حال کې چې هغوی دا ملکیتونه مخکې پېرلي ؤ او قانوني سند یې درلود. د دې کار انګېزه مذهبي ده ځکه د نورو مذهبونو پیروان هم په هماغه ځای کې دوکانونه لري خو د هغوی دوکانونه نه دي غصب شوي. همدا راز، په واخان ولسوالۍ کې د اسماعیلیانو اړوند ملکیتونه د استملاک تر نامه لاندې یا دا چې دولتي ملکیت دی د محکمې له حکم پرته له هغوی څخه اخستل شوې دي.» [۱۷۹]

یو بل مرکه شوي په بدخشان ولایت کې د سرو زرو د کان له امله د اسماعیلي شیعه ګانو د اړوندو ځمکو د پراخ غصب او تخریب په اړه ویلي دي:

«د سرو لپاره یې سړکونه تخریب کړل، څرځایونه او شاړې او سمې ځمکې یې تخریب کړې. که اعتراض وکړې د مرګ تر حده دې ربړوي. د خسارې جبران هم نه ورکوي، یو عادي سرتېرى راځي او کور دې ورانوي او څوک څه ویلی هم نشي. همدا یو کال مخکې په زمین دره سیمه کې یې د اسماعیلیانو اړوند زراعتي ځمکې ونیولې او اوس پکې کیندنې کوي. د خلکو څرځایونه یې تخریب کړل، چې په هکتارونو ځمکه کیږي. د دې کار بل ګواښ طبیعي آفتونه دي، ځکه ټول ځایونه یې وکیندل او که سیلاب راشي ټوله قریه له هر څه سره وړي. جمعه خان فاتح او ورور یې موسی شهریار دا ځمکې غصب کړې دي، ټول ځایونه د دې کس په کنټرول کې دي... هر چېرې یې چې سره زر وموندل، پوښتنه نه کوي چې دا زراعتي ځمکه ده، کور دی، سړک دی، مېوه لرونکې ونې دي، فقط غنیمت یې ګڼي او کیندنې کوي.» [۱۸۰]

179 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.

180 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د نوامبر ۱۳مه.

# عدالت ته د لاسرسي محدودیت



د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق وایي چې ټول وګړي د محکمو او عدلي بنسټونو پر وړاندې برابر دي. هر څوک حق لري چې شکایت ته یې په منصفانه او علني ډول په یوه صالحه، خپلواکه او بې پرې محکمه کې رسیدګي وشي. همداراز، د دې میثاق په ۲٦مه ماده کې د مذهبي تبعیض په ګډون د قانون پر وړاندې د ټولو وګړو د برابرۍ پر اصل تاکید شوی دی.[۱۸۱]

سره له دې، د دې څېړنې ۲۰ تنو مرکه شویو ویلي دي چې دا مهال د اسماعیلیه مذهب د پیروانو شکایتونو ته په عدلي او قضایي بنسټونو کې په منصفانه توګه رسیدګي نه کیږ. په دوی کې ۱۰ تنو یې تاکید کړی چې د دې ټولنې غړي په ځانګړي ډول د خپلو شخصیه احوالو اړوندو دوسیو کې د طالبانو محکمو ته مراجعه نه کوي.

مرکه شویو ویلي دي چې یاد بنسټونه د دې مذهبي اقلیت د غړو اړوند ټولې جزایي او حقوقي دوسیې د حنفي فقهې پر بنسټ حل و فصل کوي؛ په داسې حال کې چې د اسماعیلي او حنفي فقهې تر منځ، په ځانګړي ډول د شخصیه احوالو په اړوندو مسایلو کې لوی توپیرونه موجود دي.

له بل پلوه، یو شمېر دغو مرکه شویو ویلي دي چې د طالبانو په محکمو کې د اهل تشیع د پیروانو شاهدۍ ته اعتبار نه ورکوي. لکه څنګه چې یو مرکه شوی په دې اړه وایي:

«د طالبانو محکمې په بغلان ولایت کې په مجموع کې د اهل تشیع د پیروانو شاهدۍ ته اعتبار نه ورکوي. د بېلګې په توګه، څه وخت مخکې د دولس امامي شیعه ګانو یو کور نه غلا وشوه. کله چې دوسیه د طالبانو محکمې ته راجع شوه، د کور خاوند یو کس له ځان سره د شاهدۍ ورکولو لپاره بوولی و، خو د طالبانو قاضیانو د هغه شاهدي و نه منله او اعلان یې وکړ چې د شاهد اوسېدو شرط عادل اوسېدل دي او د عدالت شرط مسلمان اوسېدل دي، پر همدې بنسټ باید سني مذهبه شاهد راولې. په یوه بله پېښه کې یو اسماعیلي کس خپل ورور ته د میراث له حق څخه د تېرېدو په مقابل کې ٦۰۰ ډالر ورکړي ؤ. درې کاله وروسته هغوی بیا اختلاف پیدا کړ او دعوه د طالبانو محکمې ته ورسېده. یو لوري یو شاهد محکمې ته یووړ خو د طالبانو قاضیانو د هغه شاهدي و نه منله. د بغلان په محکمو کې دا رویه ډېره عامه ده. ما هم د مرافعه محکمې په جزایي دیوان کې او هم د ښاري محکمې په دیوان کې ډېر داسې موارد لیدلي چې قاضیان د شیعه مذهب د پیروانو د شاهدۍ له منلو ډډه کوي.» [۱۸۲]

بل مرکه شوي ویلي دي:
«ما خپله محکمې ته مراجعه نه ده کړې، خو د اسماعیلیه مذهب پر وړاندې مې د تبعیض موارد لیدلي دي. د بېلګې په توګه یو ځل د کابل په محکمو کې یوې قضیې ته درسیدګۍ شاهد وم، په اتهام لیک کې د تورن په اړه لیکل شوي ؤ چې هغه د اسماعیلیه مذهب له پیروانو څخه هم دی. یعنې دا موضوع د هغه پر وړاندې د جرم د یو دلیل په توګه لیکل شوې وه.» [۱۸۳]

181 . د مدني او سیاسي حقونو میثاق، ۱۴مه او ۲٦مه ماده.
182 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.
183 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۲۹مه.

یو شمېر مرکه شویو ویلي دي چې د اسماعیلیه مذهب د معاصرو احکامو پر بنسټ ښځې په ټولو برخو کې، لکه د میراث د حق اړوند هم له نارینو سره برابر حقونه لري، خو د طالبانو محکمې په دې اړه د حنفي فقهې پر بنسټ پرېکړه کوي.

یو مرکه شوي په دې اړه ویلي دي:
«زمونږ په مذهب کې ښځې له نارینو سره په میراث کې برابر حق لري او همدا راز په نورو مواردو کې هم نارینو ته پر ښځو کومه برتري نه ده ورکړل شوې. هرکله چې د اسماعیلیانو تر منځ د میراث د حق په ګډون کوم اختلاف رامنځته شي، «د آغاخان د رضایت جلبولو او منځګړتوب اداره» د اسماعیلیه مذهبي احکامو پر بنسټ هغې اختلاف ته رسیدګي کوي. خو طالبان دا پرېکړه نقضوي او وایي چې د اسماعیلیه مذهبي احکام ناسم دي او هغوی کافران دي، ځکه په اسلامي شریعت کې ښځې د نارینه وو د میراث د نیمایي هومره برخه لري. پر همدې بنسټ، هغوی دا موارد د حنفي فقهې پر بنسټ فیصله کوي.»[۱۸۴]

184 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اکتوبر ۱۹مه.

## پایله

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۱ کال په اګست کې واک ته د طالبانو له بېرته ستنېدو وروسته اسماعیلیه مذهبي اقلیت په افغانستان کې له سیستماتیکې ځپنې او ځورونې سره مخامخ شوی دی. د وېرولو، نیولو، ربړولو او په قتل د ګواښلو له لارې د حنفي فقهې زده کړې ته د اسماعیلي ماشومانو اړیستل او د سني مذهب منلو ته د دې ټولنې د غړو مجبورول هغه اقدامات دي چې طالبانو د تېرو څلورو کلونو په بهیر کې په هدفي او پرله پسې توګه ترسره کړې دي.

سربېره پر دې، په دولتي ادارو کې د تصمیم نیونې له ځایونو څخه د اسماعیلیانو حذفول، له کار څخه منعه کول او د مذهبي هویت له امله له دولتي بنسټونو څخه د هغوی شړل، د منفي تبلیغاتو زیاتوالی، ښکاره تکفیر، کرکه خپرول او د کلامي تبعیض ټولې بڼې، د دې مذهبي اقلیت پر ضد د طالبانو له تبعیضه د ډکو او ځپونکو سیاستونو یوه بله برخه ده.

د مذهبي مناسکو د ترسره کولو او د عبادتځایونو د فعالیت پر آزادۍ محدودیتونه لګول او همدا راز ګواښل، له محاکمې پرته وژنې، اجباري بې ځایه کېدل او د اسماعیلیه ټولنې د اړوندو ملکیتونو او شتمنیو غصبول نور هغه موارد دي چې د هغوی پر امنیت، انساني کرامت او حقوق بشري وضعیت باندې یې ژورې اغېزې پرېښې دي.

یاد موارد ښیي چې د طالبانو اقدامات په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې د مذهبي هویت د کمزوري کولو او ځپلو لپاره، سازمان شوی ماهیت لري، ځکه په تېرو څلورو کلونو کې په پراخه توګه ترسره شوي دي او د دې مذهبي اقلیت د غړو د ژوند ټولې برخې او ابعاد یې تر اغېز لاندې راوستي دي. د همدې له مخې، هغه څه چې دا مهال د افغانستان د اسماعیلیانو په هکله روا ګڼل کیږي، د بشریت ضد جنایت مصداق ګڼل کېدای شي چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو ته په پام سره پر افغانستان د حاکمې ډلې په توګه طالبانو ته درانه مسئولیتونه متوجه کوي.

له بل پلوه، دا مهال په افغانستان کې د مذهبي آزادیو د تضمین لپاره هیڅ مشخص قانوني چوکاټ نشته او طالبان د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې نه یوازې پر خپلو قانوني تعهداتو عمل نه کوي بلکې له اسلام څخه د سخت او ایډیالوژیک تعبیر په کولو، هر ډول متفاوت مذهبي افکار او عقاید ځپي. پر همدې بنسټ، په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې پر وړاندې د سیستماتیکې ځورونې ودرول د بین المللي میکانیزمونو اغېزناکه کارونه غواړي.

## وړاندیزونه

رواداري، د دې راپور د موندونو پر بنسټ، د افغانستان د اسماعیلیانو د بشري حقونو د وضعیت اړوند د نورو راپورو ورکولو، د ځواب ویلو د ډاډمنولو او د دې ټولنې د غړو د ملاتړ لپاره لاندې موارد وړاندیزوي:

### حاکمو چارواکو ته

- افغانستان د بشر حقونو له ډېر شمېر او الزامي اسنادو سره یوځای شوی چې مذهبي آزادي تضمینوي؛ پر همدې بنسټ، له طالبانو څخه پر دې هیواد د حاکمې ډلې په توګه غواړو چې په دې اسنادو کې د راغلو مفادو او تعهداتو د رعایت او پلي کولو لپاره پر خپلې دندې عمل وکړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې په افغانستان کې د مذهبي آزادۍ محدودوونکو سیاستونو او اقداماتو ته بې له ځنډه پای ورکړي او د اسماعیلیه ټولنې د غړو د بشر حقونو د نقض مخنیوی وکړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې اسماعیلي ماشومانو ته د سني مذهب اجباري ښوونه ژر ترژره پای ته ورسوي او د بشر حقونو د بین المللي معیارونو مطابق د خپلو زامنو د تعلیم په ډول او محتوا کې د مور و پلار د انتخاب حق ته درناوی وکړي.
- د اسماعیلیه ټولنې د غړو په زور د مذهب بدلون ته اړیستل او پر هغوی د سني مذهب تحمیلول د بشر حقونو د سرغړونو له خورا سختو مصادیقو څخه ګڼل کیږي او د مرتکبانو لپاره جدي حقوقي پایلې درلودلی شي. د همدې له مخې، له حاکمو چارواکو غواړو چې د خپلو سیمه ییزو مسئولینو د تعقیب او مجازات کولو لپاره اقدام وکړي، چې په داسې اعمالو کې یې لاس درلودلی وي.

### ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته

- اسماعیلیه ټولنه د افغانستان د فرهنګي او تمدني هویت نه بېلېدونکې برخه ګڼل کیږي او ملاتړ یې د دې هیواد د سولې د ټینګښت، یوبل منلو، پرمختګ او دوامدارې پراختیا لپاره اړین دی. پر همدې بنسټ، له ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د دې مذهبي اقلیت د ځپل کېدو د مخنیوي لپاره اغېزناک او عملي اقدامات ترسره کړي.
- لکه څنګه چې د دې رپوټ موندنې ښیي، په افغانستان کې د اسماعیلیه مذهب پیروان، په سازمان شوي ډول د تبعیض او د بشر حقونو د نقض د بېلابېلو بڼو له خطر سره مخ دي. په همدې دلیل، له ملګرو ملتونو سازمان او نورو بین المللي ذیصلاح بنسټونو څخه تمه کیږي چې د بین المللي اسنادو او تعهداتو په چوکاټ کې، د اسماعیلیانو پر ضد د مذهب پر بنسټ ځورونه په رسمیت وپیژني.
- همدا راز اړینه ده چې د ملګرو ملتونو سازمان د څارونکو میکانیزمونو په فعالولو او د نورو لارو په کارولو او حقوقي اقداماتو سره، په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې د غړو د ځپلو د دوام او سختوالي مخنیوی وکړي.
- په افغانستان کې د بشري حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي ګزارشګر ته وړاندیز کوو چې په افغانستان کې د اسماعیلیه اقلیت د بشري حقونو د وضعیت په اړه راپور برابر کړي او خپلې موندنې رسنیو او نورو اړوندو مراجعو سره شریکې کړي.
- له ملګرو ملتونو سازمان او نورو اړوندو بنسټونو غواړو چې د مذهبي اقلیتونو حقونو ته درناوی او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د اسماعیلیه ټولنې د ځپلو د مخنیوي تضمین، طالبانو سره د هر ډول سیاسي او ډیپلوماتیک تعامل مخکې-شرط وګرځوي.
- د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمیشنرۍ غوښته کیږي چې د اسماعیلیه ټولنې د غړو د پناه

غوښتنې دوسیو ته لومړیتوب ورکړي، چې د تعقیبولو او ځورولو له وېرې تېښتې ته مجبور شوي دي.

- له مهاجر منونکو هیوادونو هم غوښتنه کوو چې د هغو جدي خطرونو په نظر کې نیولو سره چې د افغانستان اسماعیلیان ورسره مخامخ دي، د هغوی د پناه غوښتنې د غوښتنو ملاتړ وکړي.
- همداراز، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د ډیپلوماتیکو او سیاسي ابزارو په کارولو طالبان اړ کړي چې مذهبي آزادیو او د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د راغلیو مقرراتو د رعایت اړوند د افغانستان ژمنو ته درناوی وکړي.

## حقوق بشري سازمانونو او رسنیو ته

- له حقوق بشري سازمانونو او رسنیو څخه تمه کیږي چې د کره اسنادو، شواهدو او راپورونو په راټولو، په افغانستان کې د اسماعیله ټولنې د بشري حقونو د نقض، تبعیض او تاوتریخوالي په مستندولو کې فعال او اغېزناک نقش ولوبوي.
- همدا راز، له حقوق بشري سازمانونو او رسنیو غواړو چې د عدالت غوښتنې له ابزارو په استفادې او د پوهاوي ورکولو د پروگرامونو په جوړولو، په افغانستان کې د اسماعیلیانو پر وړاندې له هر ډول منفي تبلیغاتو، مذهبي کرکې خپرونې او تکفیر سره مبارزه وکړي او د سوله ییز ګډ ژوند په دودونه کې فعال نقش ترسره کړي.
- د اسماعیلیانو پر ضد د تبعیض او سیستماتیکې مذهبي ځورونې د عاملانو ځواب ویونکې کول د اړوندو بنسټونو هماهنګۍ او همغږۍ ته اړتیا لري. د همدې له مخې، له حقوق بشري سازمانونو او رسنیو غواړو چې د عدالت په تامین او د بشر حقونو د نقض د مرتکبینو په تعقیب کې په همغږۍ سره اقدام وکړي.